



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: توضیح سنت فی ردالبدعت

لیکوال ::مولوي محمد اصف صمیم

کمپیوز :: ګلام خان یحي خیل

دپلارنیکه په قدم مه ځه حقیقت پسې ځه = هغه دودپرېږده چې حکمونه دقران ماتوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مؤلف لنډه پيژندنه

د مؤلف نوم مولوی محمداصف (صمیم)دښاغلې مولوی محمدنـــادرزوی

اودشهیدملاعبدالسلام لمسی چی په خټه سلیــمان خیــل اودپکتــیکاد ولایت دیحی خیلودولسوالی اوسیدونکی ده نوموړی تقریباپه ۱۳۵۴کال ددی اتل اولس په یوه دینداره کورنی کی سترگی پرانســتلی داچــه په یوه علمی کورنی پوری یي تړاودرلود خپل لمړنی دینی تعلیمات یي دهـــیواد په داخل کی ترســره کړل اودعـالی تحصیلاتودتکمیل لپاره له هیوادڅخه دباندی گاونډپاکستان ته سفروکړدهـغه هیــوادپه مختلفوښارونوکی یي ددنی عـلوموپـــه زدکـــړه کـــی نه ستـــړی کیـــدونکی هـــلی ځلی وکړی چی دذدکړی ورستی بهیریي دکراچی ښارپه جــامعـه فاروقیـــه کی بـشـپړاو د فراغت ممتازسندیي ترلاسه کړ چی د نوموړی دعالی ذهنیت ښکارندوی ده دفراغت نه ورسته وطن تـــه راستون شـــو اوپه خـــــپلودیـــنی وجیبـو اوخدماتو یي پیـل وکـړاودتــدریـس مقــدسی دنــدی ته یي مخــه کـړه چی دسیمی په مشهوره دینی مدرسه ضیاءالمدارس کـــی د مـــدرس په توگــه وگمــارل شو خونوموړی په دی اکتــفاونــکړه بلـــکی دزیاتو مصروفیاتـو سره سره یــي دتصنیف اوتألیف په ډگرکی یي هم په پوره میړانه اوهمـــت سره کاروکـــړ چی یوشمیرتالیفات لکه ترنظرلاندی تالیـف توضیح سنــت فی ردالبدعت او رسالــــه القول السلــــیم فی التکفیرالمسلیم ولیـــکل اوچاپ ته یـي امــاده کــړل همدارنگـــه دمجوع الـــعقایدپه نامـــــه یو بل تصنیف چی د بشپړولـــوپـه درشـل کــــی ده دمولوی صاحب (صمیم) دبی لوثه خدماتو بیلگـه ده ښاغلی صـمـیم برسیـره پـردی چـــی ښـه مــحرراو دپــام وړمـقررهم ده دپښـــتو ادب ځلانده ستوری هم گنل کیـږی لــکه چی دنوموړی داشعارو یوه مجموعه هم په راتلونـــکی کی دلوی خـــداي (ج)په مرسته چاپیدونکی ده دیحی خیلودلیسی مدیر فیض الله (نیازمل )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

دلوی ښښونکی خدای ﷻ ثنـــــااوصــفت ده چې مـاته يي په ليـکلوددی څو سوطوروتوفيق راکړ ورسته دټول مسلمانوورونونه خواهيش ده چـــی دغه رساله له اوله تراخيره په ډېرغوروگوری اودعمل جامه ورواغوندی په دی رساله کی دپښتو رواجونه وغيره په ډېره ساده پښتوژبه سره جمع شويدی هره مسئله دډېر تحقيق اومطالعی نه ورسته ليکله شويده اگرکه دخپل کم علمی اوکمزوری په وجه يي پوره تضمين نشم کولای خوالبته خپل ممکن غور اوکوښښ می ندی سپمولی اودمحترموعلــماوواومشفق استـــاذانو ترنظر لاندی راغلی چی دځينومحترموعلمأوتقريظونه هم پری موجوددی اوبيا هم دمحترمومشفقواستاذانواوعلمأودنيکواومخلصانه هداياتواو لارښوونوپه هيله يم چونکی دغه رساله دوه کله مخته ترتيب شوی وه خود

بدمرغه داقتصاددکمزوری اوڅه مصروفياتو له کبله چاپ ته پيښ نـــشوه خودلوی اومهربان خداي ﷻ په فضل سره هغه وخت راورســــيدوچی دغــه تحفه ستاسوحضــورته وړاندی کيدونکی ده ايـــزدمتــعال ﷻ دی زمادغه سعيه قبــــوله کــــړی او همدغه مهربانی خدای ﷻ دی دمسلمانانودگټـــی وړوگرزوی

واسلام

محمداصف (صميم)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علمأوو تقريظونه

دحضرت مفتی رحمت الله غزنوی تقريظ

بسم الله الرحمن الرحيم

حامداومصليا

دغه رساله ډيره مــفيده اودحنــيفة ؤدمــسلک ســره بلکل مــوافق اوزه يــي تائيد کوم

العبدالاواه رحمت الله الغزنوی

دحضرت مولوی صاحب حميدالله فائز تقريظ

الحمدلله المنفردبوضع الشرائع والاحــکام المستــبدبرفع معــالم الحــلال

والحرام والصلواة والسلام على افضل الرسول الکرام وعلى اله واصحابه

الغرالکرام امابعدفقداطلعت على هذه الرساله الفــقهيه العديمه الاشــباه والنظائرفی مذهب الحنفيه فوجدتهاموافقة للمعقول والمنقول قداحتوت

عــلى اقــوال ائــمه المــذاهب الفحول فلله درمؤلفهامااغرزعلمه وماأذکــی

فهمه حيث لم يسبقه اليهاسابق ولم يلحقه بهالاحق لقدانقذبهامن کــان فی

بحرالجهالة وفی عمى الضلالة واتی فيهابمانبه به راقدالهمة مستجمــعة

لتحقيــقات اولــی الا لبــاب الــذين نصبواانفــسهم لنفع العبــادواســحروا

اجفانهم حتى ظفروابالسداد

مولوی حميدالله (فائز) عفه الله عنه

دحضرت مولامحمدنذير(الخروتی)تقريظ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذی اکمل لنــاالديــن واتم علــينــاالنعمة ورضی لناالاســلام دينا

والصلاة والسلام علــــی عبــده ورســوله الداعی الی طاعة ربه المحذرعن

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الغلووالبدع والمعاضی صلی الله علیه وعلی اله وصـحبه ومن صــارعلی

نهجه واتبع هداه الی یـوم الدیــن امابعدفقداطلعت هذه الرساله الــشريفه

فوجــدتهاموافــقة لــکتب الســلف والـخلف مـن الاحناف ومشتملة علی ماعلیه اهل الحق والحق احق بالاتبــاع وان کره المــخالفون واکثــرمانقله

المؤلف اقوال الفقــهاأالاعــلام المعروفـين بالتحقيق والانــصاف فلعمری

قدبذل المؤلف جحده فی جمیع الاقاويل وسعی منتهی سعیه فی ردالبـدع

والمحدثات فهی لائقة بان تجعل مقبـولة ودعــوت لمؤلفهابحسنة الــدنيا

والاخيرة آمین العبــدالضـعیف مـحمدنذير(الخروتی)کان الله له

## د سنت او بدعت تحقيق

دسنت وبدعت تعريف

سنت طريقې ته وايی اوپه عقايدواعمالواواخلاقواومـعاملاتــواوعاداتو کـې چې کـومه طريقه نبې علیه سـلام اختــيارکړې وي هغــه ته سنت واي

سنت اوياطريقه دي اصــحابوهم په حــکم دې سنت نبوي کې ده ځکه چې خوږنبي ﷺ فرمايی :

(عليکم بســتنی وسنت الخفأالرشيدين من بعدی ) کـوم چې عــمل اوقـول دی تابعـينوده چې داصــحابوشــاګردان دی اود تــبع تـابعينوچـی داصحـابودشـاګردانو شـاګردان دی ددوی عـمل او قول هـم حق دی بـدعت نـه ورتـه ويـل کـيږی

ځــکه چې دهغـوی په خيرت اوښـه والی هم نبی علیه سـلام قول کړی لکه چې فرمايی:-

(اکرامواصــــحابې فانهـم خيارکــــم ثـم الذين يلونهــــم ثـم الـذين يـلونــــهـم ثـم يظــهرالـــــــکذب) مشکواة شـــــريف ص ۵۵۴ عزت کــوی تاسودې اصحابوځکه داغوره دي ستاسـودی بيـاهغـه خلـګ غـوره دی چـې دوی تـــه نـيـــــږدې وي (تــابعين )اوبيــاهغـــه کـسان چـې تـابعـينوته نږدی دې يعنې تبع تـــابعين بيــاوروســـته بـــه ظــاهـرشې دروغ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داشودسنت تعریف اوله دی نه دی دبدعت تعریف هم معلوم شــو چې هغه داچه : کوم شي دصحابه کراماواوتابعیــنواوتبع تابعیــنوپه زمانـــه کې مو جودنه وی اوهــغه ددیـن یوعمل وبلل شی اودثواب په نیت ترسره شي هغه بدعـت ده.

دبدعة یوه بله معني

په لاندې ډول ده بدعة په لغت کی احدث فی الدین ته ویل کیږی یعـنی یونوی شي پــه دین کې پــیـداکول اوپه شریعـت کی پیداکول دهغه شی دی چی نه دنـبی علـیه سلام په زمانـه کـې وی اونــه دصـحابه وواونه دتابعینواونه دتبع تــابعیـنو چې نه صراحة اونه کنایة اونه له کوم یوونـــه مستنبط وی اوهغـه دی ثواب کاروبلل شی اوعملـی شی اویـادثواب په نیـت پــریښودل شې اوصحابه کــرامودضــرورت بـاوجــودنوي کــړی نوپه دغــــه تعریف کی څـــوقیدونه شته په اول قیدسره هغه امــور له بدعـــة ووتــل کـوم چې په قرونویعنی په زمانودریوکی موجودوی اویامستنبط وی لکه مسائل فقیــه اوکلامــیه په دوهم قیدهغه امــورله بدعة ووتل چی دثواب په نیت نــشی ترسره لکه دی خوراک څښاک په شیانوکې پراخې کول کوم چې داســې رنګینه خوراکونه په قرونودریـوکی موجودنـه وو هــــمدارنګه دی موټــــرونو،الــوتکونه کار اخیسـتل دابدعة نده اولـــه دریــم قیــــدنه هغه شیان ووتـــل کوم چی دی صحابه کراموهغو ته ضـرورت نه وواوددی وروسـته خلګو ورته ضــرورت پیداشـولکه مدرسې جـوړول اوخـانقاوی داهم بدعة نده . درس مشکوةباب الاعتصام ص ۱۰۵

علامه سعدالدین تفتازانی په شرح مقاصدکې لیکې

ان البدعة المذمومة هوالمحدث فی الدین من غیرانیکون فی عــــهد الصحابة والتــــابعین ولادل علیه الدلیـــــــل الشریـــــــعی ج ۲ ص۲۷۱ بـدبدعت هغه بدعـت ده چی په دین کی نـوي پیـــداشـــې بې لـه دینه چی نـه په زمانــــه دصـحابــه وو کــــې وی اونــــه دتـابعیـــنـواونـــه پـــه هغه باندی کوم دلیل شریعی موجودوی سوال : ایایوشي دثواب په نیـــت پریښودل چی په زمانودریوکـــــی نه وی پریښودل شوی داهـم بدعة ده ؟ ځواب:هـــودابـدعة ده لـــکه مـلاعلی قاری (رح)لیـکې

(والمــتابعة کـــما یـکون فی الـفـعل یـکـون فـی الـترک ایـضاً)مـــــرقـات ج ۱ص ۴۱ یـــــعنی متابعت لکه څنګه چی په کولوکی وی همدارنګه په پریښـودلوکې هـم وې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بدعت اقـــــــــــسام

بدعت په دوه قســمه ده یوبدعت عملې اوبل بدعت عقیدوي بدعت عملي دیته وای چې په عقیده کې څه نـوې خــوعمل دثواب په نیت داسې اختیار کړل شي چې د سلفوصالحینونه منقـــول نه وي اعتقادی دیته وایی چې یو سړی داسې عقایداونظریـات ولري چې هـــغه دنبی ﷺ اواصحابواوتابعینو خــــــلاف وی.

حافظاابن رجب( رح ) په دې هکله داسې لیکې:

وسواء فی ذالک الاعتقادات اوالاعمال اولاقوال الظاهـرة والباطنة واامـا واقع فـــی کلام السلف من استحســـان بعضالبدع فانماذالـــک فی البـدع اللغوية لاالشـــــريعه جامع العـلوم والحکم ص ۱۹۳ برابرخبره ده کـه دغه ایجـاد کـرده شـی اعتقادات وی یااعمال وی اویـااقـوال وی ظاهره وی اوکه باطـــــنه وی کـــوم چی په خبرودسلـفوکې بـــــــــعـض بدعـاتـــوته حـــــــــــــــــــسن ویل شــــــوی دی هـــــــغه نـه مرادبـدعت لغوی ده نــه شرعي

دبدعت حســـــــــــنه تحقیق:

سوال :بعضی بدعت پسندخلک چی هربدعت کوی وای دابدعـة حسنه ده یعنی ښـه بدعت اوبدعة حســـنه رواده دحســـنه اوسیه یعنی بدبدعت په هکله معـلومات راکړی ترڅودبدعت پسنده خلګوغلط فهمی زائـله شی ؟

ځـواب : بدعـت په دوه قسمه ده بدعت لغوی اوبدعت شرعی بدعت لغوی هغه نـوی کارده کـــوم چی دی نبی ﷺ نه بعــدپیـــداشوی وی هغه عــام ده که عبادت وی اوکه عادت اوهم دغه لغوی بدعت پــه پنځه قسمه ده :- واجب ،مندوب ، حـرام ،مکروه ،مبـاح

شریعی بدعت هــغه ده کـوم چې ده قرونو ثــلاثـــه نه بعدپیداشوی وی اوپـه دی قولاًاوفـعلاً صراحةً اواشـارةً په یوه طریقه هم دشارع لــخوااجازت موجـودنه وی چی دیته بدعت ضلاله وایي اوپه بدعت سیئه ورنه تعبیرکیږی

اوعلـــماوو په دی تصریح کړی لکه چې فرمایي ان البدعة علی قسـمین بـدعـة لـغـویـة وبـدعـة شـرعیه فالاول هـوالمحدث مطلقاًعـــادتً کانت اوعبـــادتً وهـــی التی یـقسمونـهـاالی الاقسـام الخـمسه والثانی وهو مازیدعلی ماشرع من حیــث الطاعة بعدا انـقراض الازمنه الثلاثه بغیراذن من الشا رع لاقولاً ولافعلاً ولاصریحاًو لا اشاره ً وهی المرادبالدعة المحکوم علیهابالضلالة ترویح الجنان ولجنه ص ۱۶۰

حافظ ابن حجر(رح) په دې هکله داسې لیکی:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



والتحقيق انهاانكانت مماتندرج تحت مستحسن فی الشـــــــــــرع فهی حسنة وانکانت مماتـــــندرج تحت مستقبح فی الشرع فـــــــهی مستقبحة والافهی المبـــــاح وقدینقسیم الی الاحکام الخــــــــمسه فتح الباری ج ۴ص ٣٥٦ تحقیق داده چې بدعت کـــه چیرې لاندی وو تریونیک شرعـــی امرنو هغه حسنه بدعت ده او کـــه لاندی ووتریوبد شرعی امـــر نوهـــغه بد بدعت ده اوکه داسې نه وونوبـــیا مباح ده او کـــله تـــقـــــــــسمیږې پنځوقسموته اودیته قریب ده علامه عینی رح عبارت دی په عمدةالقاری کی ص ٣٥٦ج ۵

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مستحسن فی الشرع او مستقبح فی الشرح تحقیق

حضرت امام شافعی (رح) لیـــــــکی

البدعة بدعتان بدعة خالفت کتاباً اوسنـته اواجمـــــاعاً او اثرعن بعـــــــــــــــــــض اصحاب رسـولﷺ فهذه بدعـة ضلالة وبدعة لم تخـــــالـف شیاء من ذالک فهـــــذه قـد تکون حسنة لقول عـــمر(رض) نعـمة البدعة هذه) بدعت په دوه قسمه ده یوهغـــه بدعت ده چی مخالف وی له کتـــــاب اوسنت او اجماع اوله اثردبعضـی اصحابودی رسول نودابدعت ضــــلاله گمره یعنی بدبدعت ده اویوهغه بدعت ده چی لــه مختنیو شیانوله یو سره هم مخالف نه وی نودابدعت حسنه ده له جهته دقول دعمر(رض) نیک بدعت ده دغه.

مخالفـــت لکه څنگه چې په قول کی وی همدارنگه په فعل کی هم وی کوم کارچی نبی ﷺ نوی کړی اوخیرالقـــــرون هم تـرک کړی وی اولـه خیرالقرون نه وروسته څوک دثواب په نیت کوی هغه یقیناً بدعـــــــــة ضلالة ده ځـــکه چې هغه دی کتاب اوسنته او اجماع اوقیاس صحی مخالف ده اوکـــه کوم بدعة دیودلیل لاندی داخل وی هغه صحی ده چـــی کـــله ثـــواب هم پــری ورکیژی اوکله صرف مباح وی د پورتنی تشریح نه معـلومه شوه چی بدعة حسنه دیته وایي چی کـوم دینـــی شرعی کارچی دنبیﷺ نه وروستــه موجود شوی وی اوتریودی څلورو دلائـــلونــه چی کتـــاب سنت اجماع اوقیاس ده لاندی وی نودابدعة حسنه ده اوپه بل عبارت بدعة لغوية ده کوم چې بدنده

غیرمزموم ده اوکوم شـی چی نبیﷺ نــوی کـړی اوصـــحابه یی کراموهم نوی کړی همـدارنگه تـابعیـنواوتـبع تابعـــــینونوې کـړي اوڅـوک یی دثـواب په نیت ترسره کـړې دابدعة قبیحه اوسیئه ده په بل تعبیر بدعـــت شرعیه ده.

چې په هروخت کې مذموم (بـد)ده اونـاجائزده اوسره له دې چـــې په اوسنی زمانه کې که یـــو غـــیرمجتهدیوعـــمل کـــوی اوبدعت حسنه یی بولې ادا

هیڅکله قابل اعتبارنــده کوم چې په دې خبره دفقهاووتصریحات موجود دی لکه چې لیـــــــــــــــــــکې

درنصاب الفقه مـې ارندهـــــــر انچه بدعت حسنه مجتـــــهد ان قرارداده اندهـــــمان صحح است واگرکسی دراین زمـــانه چیزی بدعت حسنـه قراردهد خلاف اســــت زیراکــــــــه در مصطفی میـــــــــگویدکه کل بدعــــت ضــــلالة فــی زمانـنا فتاوی جامـع الروایات والجنه ص ٦٠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نصاب الفقه کی دي چې بدعت حسنه هغه ده چې مجتهدينوورته بدعت حسنــه ويــلی وی کـــه کوم شخص په اوســنی زمــــانــــه کی یوشـــی بدعـــت حســـنه بـــولـــې نودادحق خـــلاف ده ځـــکه چې په مصطفی نـامی کتاب کی دی چی په دی زمانه کی هربدعت گــمرهه ده

اوهمدارنگه علامه شامی (رح)ليکی لاعبرة بقول غـــيرالفقهاءالـــذين هم المجتهيدين ج ۱ ص ۳۴۴ يعـــنی دی فقـــهاوونــــه ماسواء دبل چـــاخبره چی مجتهيدين نه وی قبوله نده مجددالف ثـــانی دبـــدعت حســـنه په تقسيم باندی ردکوی اوفرمايی چيزکه مردورباشدحــسن ازکــجاپيداکند-یوشی چې ردشې هغه به حسن دکوم ځای نه پيـداکړی مــکتوبـات ص۷۲ حصه سوم

لــه دي مکــمل تفصــيل نه معلومــه شـــوه چـــې اوسـنې زمانـه کې که څوک داسې عمل کوی چې صحابه کراماواوتابعيناواوتبـع تابعيـــنونـوي کړي او بدعت حسنه يی بو لې دابلکل غلط ده چې په خيـرالقــــرون کـی اثراواصل موجـودنــــه وی هـــــغه ټـــول بـــدعت ســـيئه ده اوپـــه دی کتــــاب کی چې څومره مسائل بـــيانيږي اوبدعـــــــت کـــوم یـو فعل اوعمل ته ويل کيـږي هـغه ټول بدعـت سيئه اوبدعت شرعيه دي چی پــه هـــروخت کی مذموم دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بدعت د حرمت او مذمت دلائل

الله تعالی ﷻ فرمايي

قل انكنتم تـحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ويغفرلكم ذنوبـــــكم پ ٣ ال عـــــــــــــــــــمران ٤ع ورته ووايه ای پيغمبره چې كه تـاسومحبت كوی له الله ﷻ سره نوزماپيـــــــــــروی اواطـــــــــاعت وكړی نوالله تعالی به سـتاسو سره محبت وكړی اووبه بـــخښې گنـــــــــاهــــــونه ســـــــتاسی

حضرت عبدالله ابن عباس (رض) روايت كوی

قال رسول الله صلی الله عيه وسـلم ابی الله ان يقبل عمل صاحب بـدعةٍ حتی يدع بـدعته ابن ماجـــــــه ص ٦ چـــی رسول عليه ســــلام فرمايی چې الله تعـالی دبدعـــتی دعمل قـبلولونه انـــكاركړی ترڅو چې هــغه خپل بـــدعـــت پـريـــږدی.

دحضرت جابر (رض)نه مرفوع روايت ده

من احدث فيهاحدثـاً اواوی محمدثاًفعليه لعنت الله والملئكته والناس اجمعيــــــــن لايـقبل منه صرف ولا عدل بخاری ص ٢٥١ ج ١ چې كه چا په مدينـــه منوره كې بدعت پيداكړ او يايی كوم بدعتی ته ځــای وركړ نـــووی به پـه ده باندی لعنت داالله ﷻ اوملائكووواودټولوخلگو نه به دهغه نفـلـی عــبادات قـــبول شی نه فرضی چی هرچيری وی الــبتـــه په مـــديـنه منوره كی به يی گناه څه زياته وی ځكه هغه دهدايت مركزده

حضرت ابراهيم بن مسيره (رض)روايت كوی

قال رسـوالله ﷺ مـن وقـراصـــاحـب بدعةٍ فقداعان علی هدم لاسلام مشــــــــــــــــكوة ص٣١ چی رسول ﷺفرمايلی دی كوم شخص چې دبـــد عتی تعـــظيم وكړی نوهغه داسلام په ړنـگولوكې دهغه مددو كړ. مطلب دا چی بدعتی ړنگونكی داســلام ده ولوكه دی ځان ډيرلوی صوفي بـــولې اودده تـــعظيم كړل په ړنگولوداسلام كې كومک ده

حضرت انس بن مالک (رض)روايت كوی

قال رسوالله ﷺان الله حجب التوبة عن كل صاحب بدعة (رواه طبرانی) چی نبی ﷺ فرمايلی چې الله تعالی په هــــر بدعتی بانـــدی دی توبـــی دروازه بنده كـړی ده- اعاذنـاالله تعالی منها

دی بدعت اواهل بدعت په هكله ډيرسخت وعيدونــه راغلی كوم چې موږ يوه نمونه ذكركړه خوكه سره له دی بياهـم يوشخص په خـــودساخته دلائلو چې پخپله هم پری يقين نـه لری كوم يـــوبـدعـت مـوجـــودوی دابه ډيـرلوی جرأت وی الله تعـالی دی موږ دداسې جرأت نه وساتی . آمين.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامت دبزرگانواواکابرینوله بدعت څخه نفرت

حضرت امام غزالی (رح)فرمايـي

څوک چې بـی له عذره اتباع دسنت پرېږدی اوبدعـت اختــياروی ماسواله کـفرخفی یاحماقت جلی نه بل هیڅ وجه نشــــــته � تبلغ دین ترجمه اربعین ص ۴۲

امام ربانی مجدالف ثانی (رح)لیکی

ازحضرت حق سبحانه وتعــــــالی تضرع وزرای والتجاوافتـــــقار وذل وانکساری دسردوجــــــــهار مسائت می نمایدکه هرچــــــــه در دین محدث شده است ومبــــتدع کشته که درزمان خیرالـبشروخلفأ راشیدین او رانبودعلیه اصــــلوة وتسلیمات اگر چه ان چيــــــــــز درروشنی مثل فلق صبح بودایـــن ضعیف راب جمع که بـا اومستـند اندگرفتاران عمل مـحدث نـــــگر وا ئله ومفتون حسن ان مـبتدع نکنا وبحرمته سیدامختاروالــه الابرار وعلیه وعلیهم الصـلوة وســـلام مکتــوبات امام ربانی ص ۷۱٦

له الله تعالی نه په عــجزاو زاری او ذلت سره په پټــه اوښــکاره در خواست کوم چې په دین کی کوم شی نوی پیداشـــوی اوبــدعـت گرزیدلی چــی دنـــبی ﷺ اوخـــلفأ راشیدینـــوپـــه زمـــانـــه کـی نـه وواگر کـــه هغـــه شـــی دصــــــبح صادیق په شان روښانه هـــم وی . الله تعالی دی ددی ضعیف بنده اودهغه دمــــلگرولــه دی نـــوی بدعتی عمل نـــه وساتی اوپـری گرفتاریی مکړی اودبـــدعت په ظـــاهر حســـن یی خطأ مـــکړی پـه طفیل دی نبـــی سیـــدمختار اواله الابراربانـدی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بدعت د وجود اسباب

سوال :- بدعت چې دومره سخت نارواعمـل ده اوبزرګـان دامت ځينې پـناه غواړي نوولې کيږي اوڅنګه وجودته راځـي ايـادابدعتان دبدعــت دبـدې نتيجې نه اومــــذمت نه نه ډاريــږي ؟

ځواب :- دبدعت دموجوديدلودرې وجې دی (۱) جهـل ده چونــکه بـدعت په ظاهره ډير ښکلې اوحسين ښکاري نوخلـــګ دهغـــه په ظـــاهري حسن خطاشـي نووايي چې داخوډير ښه کارده دابه ولې ناجائـز وی اوپه ډيرشوق زوق سـره يــې ترســره کوی اوثواب يــې بولې دوهم سبــــب يـــې دنـــفس خواهيشاتوتابعداری ده ولوکه ورته معـــــــــلوم هم وی خودخپــــل جــــاه

اومرتبې دلوړوالی لپاره يې ضرورترسره کوی اووايي دابدعت حــــسنه ده لکه چې الله ﷻ فرمايي : وزين لهم الشياطين اعمالهم � ښائيســته کـړی دی دوی ته شيطانانواعمال بددوی دريم سبـب يې داده چــې خلــګ دخپل مروجه بدعت دثابته ولودپاره له داسی کمزورورواياتــوڅخه کاراخلی چې په حقيقت کی دهغه هــيڅ ثبوت نه وی لـــــــــهذابـــدعــــت وجودمومی.

په ضعيفوحديثوباندی عمل کول

سوال :- بعضی خــلګ يوعــمل کــوی اودليل يې يوضـــعيف حــديث وی وايي چې په فضــائلوکی په ضعيفوحديثوعمل کول صحيح دی داخـــــبره ترکومه حـــــده صـحيح ده ؟

ځواب :- بعــضی علــما پــه ضـعيـف حـديـث عـمل کـول مـطلـقاًجـائزنـه بـولـې لکه قاضی ابن العربی المالکی (رح)وغيره ليکې لايعمل بـه مطلقاً-پـه ضعيف حديث مطلقاً عمل نه کيږی نه پــه فضائلونه غـــيرفضائـلوکی (القول البديع ص ۱۹۵ البتــه جمـهورعلماپه فضـائلوکــــی په ضـغيف حــديثو عمل جائزبولـی خو سره ديوڅوشرطونولکه علامه شامي (رح) ليکی چې په ضـعيف حديثو باندی دعمل کولولپاره دري شرطونه دی (۱) داروايت بــه ډيرکمزوري نـــه وی يعنی ددی کوم يـــوراوی به دروغـــــــــــجن اويـــا په دروغومتهم نه وی (۲ ) داچه دابه دشرعت تريوعام اصل لانــــدی وی (۳ ) داچه په دی کوم شی ثابــــت ده هغه به سنت نه بلل کيږی تــــرڅـــوچی ددی حديث مصداق نه ووګرځی ( من کذب عـلی متـعمدافليتبوء مقعده مـــن النار)چاچې وتړل دروغ په مابـانـدی هغــه خپله ځـای په جهنم کی بـرابـرکړ (ردالمحتاربتغيرما ج ۱ص ۱۲۸

همدارنګه مولاناعبدالحی(رح) ليکی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واماالعمل بالضعيف فی الفضائل فدعوي الاتفاق فـيه باطله نعـم هو مذهب الجمهور لكــنه مشــــروط بان لايــكون الحــدث ضعيفاً شــد يداً فانكان كذلک لم يقبـــــل فی الفضـائل ايضاً الاثارالمرفوعـــــــــه فــی الاخبارالموضوعه ص ۳۱۰

په فضــائلوکی په ضعیف حدیـثو عمل کول اوادعوه کول چـی ټول علمایی صـحیح بولـــی باطل دی هودجمهوروعلــماوومـــذهب ده خوپه دی شرط چی ډیــــرضعیف به نه وی اوکه وو بیاپه فضائلوکی هم قبول نده

دځواب خلاصه داده چی په فضائلوکی په ضعیفو حـدیثو عمل دجمـــهو ر علمأووپه نیزدصحیح ده خوسره دهغوشرطو چی ذکرشوخوددغــو شرطــو دنه لحاظ کــیدوله امــله شــه خبره داده چې داعمل کـــوم چی په ضعـیف حدیث ثابــت ده فرض یاواجب نده . لهذاپرینبودل یی پـکاردې نوردثـواب کارونه ډیـــردی چــی هغـه پــه صحیحوحدیثوثـابت وی اوثبوت یی یقینی وی ددی پرځای هغه اختیــارول پکاردی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بدعت دمذمت اوذلالت حکمت

سوال :- بدعت ولی دومره مبغوض اوبدده حکمت پکښې څه ده ؟

ځواب :- علمأوودډی ډیروجی بیان کړی خـودمشـت نمونه خروارپه ډول به دلته یوڅو ذکرکړو (۱)ددین اسلام تکمیل په قران ثابت ده لـــکه چـــی الله تعالیﷻفرمایی (الیوم اکملت لکم دینکم )ترجمه نن ورځ تاســوته ماکامل کړدین دی تاسونواوس که څوک راځی اویـوداسی عـمل کـوی چی هغه له نبیﷺنه صراحةًًثابت وی اونه اشارةً اوپه دین کښـی یی داخـله وی نوداددی معنی ده چی نعوذبالله دحضرت نبیﷺ دین ناقص اوکامـل نده او هم دامعنی ورکوی چی دی شرعـــــت په کاروزه ترنـــــبیﷺ اوصحابــه وواوتابعینونه ښه پوهیږم حالانکه داپه سلفــوصالیحینواودی نبیﷺ په راوړل شوی دین حـمله ده(۲)داچـی دبدعت نه ماسواچی کـــومه بـــله ګنـــاه څوک کوی نوهغه ګناه بولی اوپری پیښمانی کوی اوتـــوبه هم ځینی کـــوی مګربدعت داسی ګناه ده چی کونـــکی یی بلکل ګنـــاه نه بولی بلـــکی یوښـــه کاریی بولی نوتوبه او پیښـمانی خوهیـڅکله نه ځینی کوی لهذابـدعتی دمرګ تر وخته په دی عظیمه ګناه باندی دتوبه کولونه بی برخی پاته کـیږی لهذا بدعت یوډیربد بخته اومهلک عمل ده مســـــلمانانوته لازمـــه ده چی په کوم یوعمل اواو عقـــــیده کی شائبه دی بدعـت وی هـــم بـــایدهـــغه پـــریږدی اوځان ځیـــنی

وساتی ددی پرځای چی دهغه دجوازدپاره ددلائلوبرابرولوکوښښ کـــوی.

دبدعت په جوازدی بدعتـیان دلائل اودهغوی ځوابونه

سوال :-بعضـــی بدعتیان وای چی بدعت رواده نـبیﷺ فرمایـی من سن سنته حســـنةً الخ(مسلم ص ۳۴۱ج ۲)یعنـــی چـــاچی جـــاری کړه په اسلام کی یونیکه طریـــقه اوبیـــایـــی عمل پری وکړ نودده دخپل عمل ثواب هم ده اوچی نور څوک په دغـــه طریقه عمل کوی دهـغوی په ثواب کی هم ورسره شریک ده نوددینه معلومه شوه چی نوی طـریقه داخلول په اسلام کی ښه کارده ؟

ځواب :- د مســـلم پـــه دغـــه روایـــت کی من سن سنةً په ځای - ایماداعٍ الی الهدای الفاظ راغـــلـی یعنی چی څـــوک دهدایت طرف ته راوبولی نه نـوی طریقه اوددغه حدیث په دوهمه طریقـــه کی دالفـــاظ دی احیاسـنة یـعنی چاچـــی زماسنت ژوندکړل چی زمانه ورسته مړه شوی وی یعنی څوک عمل نه پری کوی . دوهم ځواب ددی حدیث شریف مـــعنی داده چـــی کوم شی په شریعت کی دالالـــةً یااشـــارةً ثابـــت وی چی دهغه داعـــی اومحرک په خیر القر ون کی موجودنـــوی بلـــکی وروسته به وی خودڅـــلوردلائـــلونه به دیو دلیل لانـــدی داخـــل وی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال :- بدعتـــیان یـــــوبـــــل دلیــل لری چی حضرت نبی ﷺ فرمایی ماراٰه المسلمون حسناًفهو عندالله حســن � یعــنی مسلمانان چــی کوم شی نیک وبولی هغه دخدای ﷻ پــه نزد هم حسن اونیک ده لهذابدعت نیـک كارده ؟

ځواب :- یوخودالمـــسلمون نه كامـل مســلمان مراددی چی صحابه کـرام دی دصحابه وو عمل خوضرورحـسن ده دی ماناوعلـــیه اصحابی دوجـی نه دشامی ج۵ ص ۳۵ اودالبدایه والنهایه ج۱۰ ص ۳۲۸ اودعینی ج۳ ص ٦٥١ نــه هــم معلومیږی چی ددی نه اصحاب مراد دی اوملاناعبدالحی (رح)لیـکی چی ددی نه مراد صحابه کرام اوتابعین اوتبع تابعین دی لـکه چی هغه لیـــکی

لایدل الحدیث الاعلی حسن استحسنه الصحابه ومااستحسنه الکامـلون من الاجتـــــهادولاعـــلی حسن مااستحســــنه غیرهم من العـــلماٲالذین حدثوابعدالقرون الثلاثه ولاحظ لهم من الاجتهادالخ تعلیق الممجدص ۱۴۱ اوبل داچه د فتح الملـهم ج۲ص ۴۰۵ اونصـب الرایه ج۴ص ۱۳۳ نــه معـــلومـیږی چــــی دا حدیث دی نبی ﷺ بیان نده بلـــکی په عبدالله آبن مسعود بـــانــدی معرقوف ده لـکه چی په نصــب الــرایه کی لیکی لم اجــده الاموقوفـاًعـلی ابن مســعود یعنی مادغه روایت په عبدالله ابن مسعـــــودپوری موقـــوف پیداکړی لهذا دبدعت جوازله دی حدیث نه هم نشی ثابتیدالای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې اوعيدينومتعلق مسائل

په روژه کې دمروجه تسبيحاتوحکم

دروژې اوعيدونومتعلق مسائل

سوال :-ځنې ملاامامان په تراويحوکې په هره تراويحه کې په لـوړاوازسره ځنې خاص تسبيحات وايي لکـه په اول درمـضان کې دتسبيحاتوپـه اخير کې مرحـــباوايي اوپـه اخير درمضان کې الـــوداع وايـــي ايادذې عمل کوم اصـل په کتابوکې شته اوکه نه ؟

ځواب :- تسبيحات ويل ذکرده اوذکردالله تـــعالیﷻ يوعظـــيم عـــبادت ده خوالبته په هغه طريقه عبادت کول چې شريعـــت ورته ښـــودلې وی په کومه موقع کې چې شريعت دذکر بـــالجـــهرحـــکم کړی هلته په جهر(په زوره)سره ويل سنت دی لکه تکبيرات التشريق اوتلبيه په حج کې اوچيرته چې دجهر حکم نه وی هلته په خفيه (سوکه)ذکرکول بهتردی ائمه اربعه دذکر خفيه په مستحب والی متفق دی اگـرکه امـــاابويوســـف اوامـــام محـــمداوبعضی صوفيه دذکربالجهرقائل دی خوالبته ائمـــه اربعـــه چې په کومه خبره متفق وی حق به دهغوی خواته وی لکه چې الله تـعالیﷻ فرمايي واذکرربک فی نفسکه تضرعاًوخيفه ودون الجهرمن القول پ ۹ اعراف ۲۴ع يعنی ذکرکړه رب خپل په زړه کې په عاجزی سره اوپه ډارسره اوترجهرپه کم اوازســره له قول نه بل ځای الله تـــعالی ﷻ فـرمايي ادعـوربکم تضرعاًوخفيه انه لايحب المعتدين پ ۸ اعراف ۷ع يعنی بوله رب خـــپل پـــه عـــاجزی سره اوپه خفيه طريقی سره بيشکه الله تعالی ﷻ محبـــت نـــه کوی لـــه تجاوزکوونکوسره په دغه ايات کې مسلمانانوته ددوخبروتعـــليم ورکـــول دی يـــوداچـــه پـــه اخلاص سره دعااو ذکر کوی دوهم داچه په سوکه اوپه پټه سره الله تـعالی يادکړی لـه خـــپله حـــده تـــجاوزمـــکوئ يـــووخت صحابـــه کـــرامو(رض)په لوړاوازسره ذکرکاوه حضرت نبیﷺ دوی منـع کړل اوويي فرمايل ايهاالناس اربعواعلی انفسکم انـکم ليس تـــدعـــون اصـــم ولاغـــائـــب وانـــکم تـدعون سمـــيعاقريباًوهومعـکم بخاری ج۲ ص ٦٠٥ ومسلم ج۲ ص۳۴٦ اي خلگوپه خپلونفسونونرمی کوی تاسووداســـی ذات نه بولی چې هغـــه کوڼ ياغائب ده بلکی تاسو اوريدونـــکی اونيـــــــــــــــړدی ذات بولـــی هغه دتـــاســـوسره ده حضرت امام نووی (رح)ددی حديث په شرحه کی ليکی - ففيه الندب الی خفض الصوت بالـــذکراذالم تـدع حاجةا لی رفعه شـــرح مسلم فی ذالک الموضع يعنی داحديث په دی دالالت کـوی چـی په سوکه ذکرکول بهـــتردی ترڅـــو چې لـوړاوازته حاجـت نه وی پيداشوی

فتاوی بزازيه په دی هکله داسی ليکی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعن فتاوى القاضى انـــــــه حـــــــرام لمـــاصـــح عن ابن مسعود(رض) انه اخرج جماعة من المسجديهللون ويصلون على النبى ﷺ جهـــراًوقـــــــال لهم ماأراكـم الى مبــتدعين بزازيه على هامش عالمگيريه ج٦ ص ٣٧٨ له فتاوى دقاضى نه نقل ده چى په جـــهر ذكركول حرام دى له حضرت ابن مسعود(رض) نه صحح روايت ده چى هغـه يوه ډله دخلگوله جماعت نه وايستله كومـوچى هـــغوى پـــه لـــوړاواز ســـــره لااله الاالله اودرود شريـــف وايواوويـــى فرمـــايـل چى نـــه وينـــم تاسوزه مـــگربدعـــتيـان

همدارنگه فتاوى كبيرى ليكى

ولابى حنيفة ان رفع الصوت بالذكربدعة مـــخالف للامرفـــى قولـــه تعالى ادعوربكم تضرعاً ص ٥٦٦ يعنى له امام ابى حنيفه (رح)نه روايت ده چى پورته كول دغږپه ذكربدعت ده له جهـــته دى مخالفته دامـــردالله تعالى ﷻ په دى قول كى ودعوربكم تضرعاً حضرت مفتى كفايت الله صاحب په دى هكله داسى ليكى سوال :-بوقت ارام گرفتن خاموش نشندياباید‌چیزبخواندجـــــــواب مختاراست كه خاموش نشـندیابه اهستگى قران یاتسبيح بـــــــخواند تعليم الاسلام حصه ۴ص۳۵ په وخت دارام كولوكى بايدســـړى خاموش كښينى اوياڅه ووايي په ځواب كى ليـــكى غـــوره داده چى خاموش كښينى ياپه سوكه قـــران ياتسبيح ووايي حضرت مولاناعبدالحـــى (رح)اومفتى رشيداحمدصاحب (رح)ددى عمل پـــه بدعتوالى تصريح كړى لكه چى هغه ليكى سوال : په اخيره جمعه درمضان كى الوداع ويل څنگه دى ځواب الوداع كومه چى په دى زمانه كى مـــروجه ده له بدعت نه خالى نده په معـــتمدو علماؤولازمه ده چى داطريقه پريږدى ترڅوعوام ددى دضروروالى دعقيدى نه نجات پيداكړى مجموعة فتاوى عبدالحى اردوص ۵۳۴ اواحسن الفتاوى ج۱ ص ۳۷۱

دتـــيربحث خلاصه داشوه چى مروجه تســـبيحات ويـــل ذكرده اوذكرپه لوړ اوازسره دامام ابوحنيفه (رح)په نزدبدعت ده اونـــه په قرونـــوثـــلاثه ووكى د دى عمل كوم اصل شته اونه په كوم كتاب كى دداسى خاصـــو تســـبيحاتو چى په الوداع اومرحبامشتمل وى ذكرشته لهذاددى عمل په بدعـــت والى كى شك نشته پرېښودل يي لازم دى والله اعلم بحقيقة الحا ل

په روژه كى دتبارك الذى سورة ويلوحكم

سوال :- په روژه كى ځنى ملاامامان دتروايحودلمانځه نه وروسته تبـــارك الذى سورة وايي اوبل وخت داسورة نه ويل كيږى ددى عمل حـــكم څه ده ؟

ځواب :- مخته تيرشواوورسته هم راځى چى مستحب يامـــــباح كارونه پـــه يوخاص وخت پورى خاص گرزل چى شريعت نه وى خـــاص كړى بـــدعـت ده خوالبته كه په داسى وخت پورى يوشى خاص شى لاعـــلى الالتـــزام چى په هغه وخت كى ثـــــواب زيات وى لكه روژه لكه چى يونيك عمل پكښى پــه (۷۰)چنده ده نوبـــــدعت نده چونكه دروژى فضيلت له احاديثونه ثـــابت ده خوكه بياهم دعوامـــوپه گمان تبـــارك الـــذى ويل په روژه كى ضرورى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی نوبیا بدعت ده ځکه چې مخته به راشي چی که په یومستحب یامـباح عمل دسنتو یاواجبو گمان کيږی هغه مکروه اوبدعت ده لهذادغه عمل اقـــلاًله شائبی دبدعـت نه خالی نده او حضــــرت نبی ﷺ فرمايي داع مايريبـک الــی مالايريبک فان الخيرطمانية وان الشريبة يعنی پريږده هغه شی چی تاپه شک کی اچــــوی اواختـــيارکــــړه هغــه څــــه چی دشـک نه خالی وی ځکه خيرباعث داطمينان ده اوشرباعث دشک ده- مستدرک ج۲ص ۱۲ لـــهذاښه خبره داده چی داعمل پريښودل شی دخيرکارونه نورهم ډيردی اولــه هرڅـه نه پاک اودشک او شبــهی نه خالـــی دی ددی پرځای هغه بـــايـد عملی شی

والله اعلم وعلمه اتم واحکم

دسنتونه بعدددعاًحکم

سوال :-بعضی ملاامامان دسنتونه بعدپه لوړاوازسره دعاکوی چی بعضی خلگ په دی وخــــت کی لمــــونځ کوی هغوی ته تــــکليف پــــيداکيږی اوپـه لمانځه کی خطاکيـــــږی اوبل داچه دادعاًوی دومره ضروری گرځـيدلی دی چی پــــريښودل يي عــــوام ډيربدبولی اوهروخت کيږی کله هم نه پريــــښودل کيږی په شريعت نبوی کښی داعمل ترکومه حده ثابت ده ؟

ځواب :- دعاعبادت ده لکه چی په حديث شريف کی راغلی الدعاًمخ العبادات يعنی دعامــغزدعباداتوده اودسنــــتونه وروســــته دعاکول مستحب ده اوددی ثبوت په کتابوکی شته لکه طـــحطاوی ليکی والدعاًهذالاايناف الاتيان بالـــلهم انت السلام کماهوالماثور فی الــرويات ليس بدعاًيعنی دغه دعاًورسته له سنتوضدنه ده له اللهم انت السـلام سره لــــکه څرنگه په رواياتوکی راغلـــی چی اللهم انت السلام دعانده چی تکرارپه دعاکی راشی خوالبته هريوعمل يوچوکاټ اوقانون لری دادعاکه څه هم ثابته ده بلکی مستحب ده خوپه زوره دعاکول که نورولمونځ کونکو ته تکليف وی حرام ده اوکه نوروته تکليف نه وی هم ائمه اربعه ددعااوذکر په خفيه کولواپه استحباب متفق دی لکه چی حضرت امام نووی (رح)ليکی اماالدعاًفيسرفيه بلاخلاف شرح مسلم ج ٦ ص ۳۱۱ يعنی کومه چی دعــــاده په دی کښی دهـــــيچااختـــــلاف نـــشته چی په سوکه کول پکاردی بلکی حضرت اماابوحنيفه (رح)په جهردعاًکول بدعت بولی

لکه امام سراج الدين ا لحنيفی(رح) اوملاعلی قاری (رح)ليکی

يستحب فی الدعـــاًالاخفـــاًورفع الصوت بالدعاًبـــدعة فتاوی سراجيه ص ۷۲ اوموضوعات کبيرص ۱۷ مستــــحب ده دعـاکول په پټه خوله سره اوپه لوړاواز سره دعاکول بدعت ده همدارنگه بزازيه ليکی اذاتعلم القــوم خــــافت هو ايضاًوان جهرفهوبدعة بزازيه ج۴ ص ۴۲ چی کـله قوم پوه شی ددعاًپه طريقه باندی نوپټه خوله دی شی امام هم اوکه چيری جهروکړی نودابدعـــت ده او که دتــعليم دپــاره نــه وی اوقوم ددعاًپه طريقه پوه وی بياپه زوره دعاکول بدعت دی کذافی العالمگيريه ج۵ ص ۳۱۸ ددينــه علاوه ددی دعاداسی التزام کـــول اوضـــروری بلل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــی عــوام دسنتـــویاواجـــبوگمان پری کوی او پریښودل یي ورته ډیرنـــاشده ښـــکاری دابل بـــدعت ده ځکه چی یوشی لازم گرځول چی شریعت هغه نه وی لازم کـړی بدعت ده لکه درمختارلیکی چی دمستحب کارداســی التزام کول چی خلــگ دسنتویاواجبوگمان پری کوی مکروه ده لکه چی هغه لیکی � ســـجدة الشکرمستحبة به یفتی لکنهاتــکره بعدالصــلواة لان الجهله یعتقدونـــهاسنةوواجبة وکل مــباح یـــؤدی الیه فهومکروه درمخــتارقبیـل باب اعتــکاف یعنی سجده دشکرمستحب ده اوپه دی خبره فتوی ده لـــیکن دلمانځه نــه ورسته کول یـــي مـــکروه دی ځـکه چی بی عـــلمه خــــلگ دسنتــو اوواجبو گمان پری کوی اوپه هرمباح چی داسی گمان کیږی هغه مکروه ده.

همدارنگه عبدالله ابن مسعود(رض )روایت کوی

قال لایجعل احدکم للشیـــطان شیاء من صلوته یری ان حــــــق علیه ان لاینصرف الاعن یمینه لقدرائت رسول الله ﷺکثیـــــرا ینـــــــــــصرف عن یساره مشــــکوة ص۷۸ له تاسونه هیـڅوک دی په خپل لمانځه کی دشیطان لپـاره حصه نه پریږدی په دی طریقه چی له لمانځه نه بعدپه ښي طرف راگـــرزیـــدل لازم بـولی مانبی لیـــدلی چی هغـــــه به ډیـــرکرته په چـپ طــرف راگـرزیــــده مشهورمحقق محمدطاهرالحنفی ددی حدیث په شرحه کی لیکی فیه من اصرعلـی امــــــر مندوب وجعل عزمـــــا ولم یعمل بالرخصــــــــة فقداصاب منه الشطیان من الاضلال فکیف مــن اصرعلی بدعة اومنــکر مجمع البــــحارص۲۴۴ په دی حدیـــث کی په دی بانـــدی خبرده چی چاپه یومستحب کارباندی همـیشه توب وکړاو عزیـــمت یي وگرزاوه اوپــه رخصــت یــي کلـــه هم عمل نه کاوه گویا کی چی داشیطان گمراه کــړیده څه حـال بــه وی دهــغه چاچـــی په یوبدعت اوبـد عمل باندی اصرارهمیشـــه توب وکړی

که دغه مذکورحـــدیث اودمجمع البـــحاردغه عـبارات زموږله مروجه دعأ گانوسره قیاس کړواوله انصاف نه کارواخلوزموږدسنتـــونه بعددعا گانی بلکل داسی دی چی یوامـــر مستحب ده خودومره اصــرار (همـــیشه توب) پری کیږی چی عزیمت گرزیدلې اوپه رخصـــت یي کله هم عـــمل نـــه کیږی

لهذاکله ناکله دغه دعـــأگانی قصداًپریـــښودل لازمـــی دی خوالبته طریقه داده چی مخته عوام یوارپوه شی بیاداعمل اجراشی مطـــلب داشوچی دعا بعددســـنتونه ثابته ده بلکی مستحب ده خــوپــه لوړ اوازاو جهر سره اوهر وخت کول لازمــــی گرزول یي زمونـــږپه مـــذهب بدعت ده لهذادعا بایدپه خفیه (سوکه ) وی اوکلـه قصداًپریښودل شی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنفلی عباداتولپاره له خپل ځان نه وختونه اوکیفتونه معومول بدعت دی

سوال :-ځنی صوفیان حضرات دجمعی دورځی اویاشپی ډیرزیات اهتمام کوی چی په شپه کی نفلونه کوی اودورځی روژی نیسی په شریعت نبـــوی ﷺ

کښی ددی اهتمام اوتخصص حکم څه ده؟

ځواب دجمعی په ورځ د شریعت نه صرف دجمعی لمونځ ثابت ده چی ښـــار وی اوشرائط پوره وی ددی نه علاوه نورڅه تردی وختوپوری خاص گرزول دشریعت خلاف ده حضرت نبی کریم ﷺ فرمايي قال لاتختصوالیــــــــــــلة الجمــــــــــــعة بقیام من بین اللــــــــــــــیالی ولا تــــخـــتصـــــــوایـــوم الجمــــــــــــــعة بصیام من بین الایـــــــــــــام الی ان یکون فی صوم یصوم احدکم مســــــــــلم ج۱ ص۳٦۱ مه خاصه ؤی شپه دجمعی په لمانځه باندی له نورو شپـــونه اومه خاصـــه ؤی ورځ دی جمعی په روژه نیولو له نـورووځونــه چی د جمعی په شپه زیـــادت لمنځونه کوی اوپــه ورځ کی یـــي روژه نیسی مگر هوکه جـمعه راغله ستاســـــوپه هغــوروژوکـــــــی چی دقضايي دپاره نیــــسی یـــانــــذروغـــیره اوجمعـــه پـــکښی راشـــی پـــروا یي نشته

علامه اسحاق شاطبی (رح)لیکی

ومنهاالتزام العبادات المعینه فی اوقات معینه لم یوجدلهاذالک التعین فی شریعة الا عتصام ج۱ ص ۳۴ یعنی بعـضی له هیغوبـــدعاتونه لازمول دی عباداتودی په اوقاتو معـــینه ووکی چی شریعـــت دغـــه تعین تردغه وخته پوری نه وی ورکړی

حضرت مولاناشاولی الله صاحب (رح)لیکي

ومنهاالتشــــــــــــــــدو حقیقة عبادات شاقــــه والتبتل وترک النکاح وان یلتزم السنـــــــــــــن والاداب کا لــــــــــــتزام الواجبـــــــات فا ذاکان هذاالمتعــــــــــــــــمق او المتشدیدمعلم قــــــوم ورئسهم ظنواان هـــــذا امر الشـــــرع ورضـــــــاه وهذاادارهبان الیـهودو النصری حجة الله ج۱ ص۱۲۰ اوبعضی لــه هغــونـه شــدت اختــــیارول دی اوددی حقیقت داده چی داسی مشکل عبادات اختیارکړی چی شریعت دهـــغوی حکم نه وی کړی مثلاً همیـشه روژه نـــیول اوشپی ویــــښی تـــیرول په نفلوبـــاندی او گوښــگی اختـــیارول اونکـــاح پریښودل دسنـــتواوادابـوداسی التزام کول لکه دی واجـــوکه داســـی مـــتعمق اومتـــشدیـد دکوقوم لارښودیارئس وی نو قوم داگـــمان کوی چی د ده دغه عمل دشـریعت حکم ده اودده خــــوښ ده او هــــمدغـــه حــــــــــال دیهودواونصـــــــری وودصــــوفـــیانـووو بالاخــــیره دی عــــمل تــه علماووبدعت ویلی دی په خاصوشپوروخوکی د عباداتوالتزام کول صحح ندی البته بغیردلازم والی که دجمعی په شپــه او یاورځ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



كوم عمل اجراشي پروانلري په شريعت کی التزام (همیــشه گرزول ) منع دی مثلاًکه یوسړی دجمعی په شپه صلوة تسبح کوی اودجمعی پـه هره شپه يي کوی کله يي هم نه پرېږی نودالتزام ده اوپه شریعت کی منـــع ده او ددی نه بغیرجائزده یعنی بغیردهمیشه توب نه

## دعید د مبارکې حکم

سوال :دعیدپه ورځ خلگ په مسجدکی دچای خوړلونه ورسته یوله بل سره مصافحه یامبارکې کوی همدارنگه دعیددلمانځه نه ورسته اویاد جـمعی دلمانځه نه ورسته اویادسهـاراوماذدیـــگردلمانځه نه ورسته مصـــافحه یامعانقه په ځینوځایوکی رواج ده په شریعت کی ددی عمل حکم څه ده ؟

ځواب :-مصافحه یعنی یوبل ته لاس ورکول یامعانقه یعنی يـــوبل ته غیږرو رکول سنت ده خوالبته په اول دی ملاقات یعـــنی چی دوه نفرسره مـــخامخ شونومصافحه یامعانقه کول سنت دی پدی خـــاص وختوکی چی ډیروخت ناست وی بـــیاراولاړشـــی اویوله بـــل سره مصافحه کـــوی داعمل مکروه اوبدعت ده ردمحتارليکی صرح بعض علـــمأناوغیر هم بکرهـــة المصافـــــحه المعتادة عقیب الصـــلوة مع ان المصافحه سنـــة و ماذاك لالکونهالم توثـــر فی خصوص هذه الموضع ج٥ ص ٢٧٠تصريح کړی بعضی علمأزمونږاونـــورو علماوو په مکروه والی دمصافحی چی عادت ده ورسته له لمانځه ســـره له دی چی مصافحه سنـــت ده ددی بله وجـــــه نشته مگرداچه په دی خاص وخـــت کی دی مصافحی کولوکوم روایـــــت نشته

همدرنگه حضرت ملاعلی قاری (رح)لیکی

ولهذاصرح بعض علمأنابانهامکروهة وحینئذانهـامن البـــدع المـــــذمومه حاشيه مشکوة ص٤٠١ یعنی له دی وجی بعضی علمأوزمونږپه دی تصـــریح کړی چی دامصافحه مـــــکروه ده اوپه دی خاصووختوکی له بدعاتوقبیحـه وو څخه ده شیخ عبدالحق محدث دهلوی لیکی انکه بعضـــی مردم مصـــافـحه میکنندبعدازنمازیابعدازنمازجمعه چیزی نیست وبدعت است ازجهت تخصص وقت اشعاة اللمعات ج۴ ص ١٢ یعنی داچه بعـــضی خلـــــگ مصـافحه کوی دلمانځه نه ورسته یادجمعی د لمانځه نه ورسته هیڅ شی هم نده اوبدعت ده له جهته دخاصوالی دوخت نه

علامه طبی (رح)لیکی

یکره المصافحة بعداداءالصلواة علی کل حال لانهامن سنن الروافض وهکذاالحکم فی المعانقه بحواله لجنه ص ١٣٠ یعنی دلمانځه ورسته مصافحه کول په هرحال کی مکروه ده ځکه چی ددادشیعه گانوطریقه ده اوهمداحکم ده په معانقه کی حضرت مولاناظفراحمدعثمانی (رح)لیکی داخترونونه پس چی کومه مصاحفه رواج ده دابدعت ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امدادالاحکام ج۱ ص۹٦ همدارنگه احسن الفتاوی ج۱ ص ۳۵۴ هم داعمل بدعت بللی بدعت کبیره گناه اویومهلک عمل ده اوددی مذمت مخته په حدیثوکی په تفصیل سره ذکرشوبایدمسلمانان له غفلت څخه کاروانخلی پخپله هم له داسی اعمالو نه ځان وساتی اونورهم له داسی منکرواعمالونه راوګرزوی اودی غـــفلت په صـــورت کی به ټول مسئول یوځکه چی بدعـــت ډیر عظیمه گناه ده کوم چی مونږمخته تفصیلی بحث پری وکړلهذامونږبایدخپلی غــاړی خلاصی کړوداسی بایدنه ووایوچی دااوس رواج گرزیدلی دانشی کیدای

دهگۍ جنگولوحکم

سوال:-دعیدسعیدپه ورځوکی خلگ هگۍ جنگوی دی خلگودی عمل تــه شریعت په کوم نظرگوری ؟

ځواب :-دخلگودغه عمل دی عیدپه مبارکوشپوکی په ډیرگناهونو اوبـــد بختیومشتمل ده اودی شریعت له نظره داعمل کبیره گناه ده له دینه علاوه په دی عمل کی دی انسان قیـــمتی وخت عبــث تیریږی اوپه حدیث شریف کی راغلی چی هرعبث کاحــرام ده اوبــل داچه په دی عـــمل کی ضایع کول دمال هم راځی اوضـــــایع کول دمال حرام دی الله تعالی ﷻ فــرمايي چـــی مبزرین یعنی دخپل مال بیځایه مصرف کونکی دشیطانانووروڼه دی اوبل داچـــه پــه دی مذموم عمل کی دډیرشغل له وجی ډیرخلگ فـرض لمنځونه پریږیدی حالنکه چی په قصدلمونځ قضأکول دی بعـــضی علمـــأوپه نـــزد کفرده اوپه حدیث شریف کی راغلې دی چی څوک په قصدلمونځ قضاکړی هغه ته به دوه حقبـــه په جهنـــم کـــی سزا ورکول کیږی ددینه علاوه داعمل یعنی هگۍ جنگول قمارده اوقمارکبـــیره گنــاده الله تعالی ﷻ ورنه مـــنع فرمایلی لکه چی فرمايي انماالخمروالمیسرولانصاب والازلام رجس مـن عمل الشطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون - یعنی شراب اوقماروابت وغـــیره اودی قرعی غیسی داله اعمالودی شیطان نه دی اونجس ده نوپرهیـــزورنه وکړی تاسوبه فلاح خلاصوالی پیداکړی . الله تعالی ﷻ په دغه ایات کـــی داخبره واضحه کړه چی قمار شراب وغیره دانجس دی لهذاهغه جنگیدلې ماتې شوی هگۍ مرداری دی حکماًاوخوړل یي حرام دی بلکی دی سود تر روپوهم په حرام والې کی زیاتی دی په هدایه ج۱ کتاب الکراهة کی لیـــکی چی قمارکوونکی قاسقان دی شاهدی یي نـــه قبلیږی دی امام ابویــوسف (رح) اوامام محمد(رح)په نزددغوخلگوتـه سلام وراچـول هـم صحح نـدی � بالاخیره دغه عمل دیوی گناه په شکل کی پـــه ډیـــروگنـــاهونومشـــتمل ده بیاخاصکردی عیدپه مبارکوو ورځو کی داسی ناوړه اعـــمال ترســـره کول لالویه گناه ده ځکه چی په کومووختونـــوکی ثـــواب ترنوروورځوزیات وی هلته گناه هم ترنورووختوزیاته وی حضرت نبیﷺ ددی ورځوپه هکله داسی فرمايي مامن ایام العمل الصالح احب الی الله من هـــذالایام العشره ای عشرذولحجة مشکوة ص ١٢٦ یعنی نشته له ورځونه چی نیک عمل الله تعالی ﷻ ته ډیرکی خوښ وی ماسواء له دغوورځودی ذالحجی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښځه او د پښتنوعام رواجونه

دښځوسره ظالمانه سلوک اودهغوئ په حقوق تیری کول

### د پښتنوعام رواجونه

سوال :- ډیرخلګ په میراث کی خوراولـــورته کـــومه حصــه نه ورکوی پــه شریعت کی ددوی حق څومره ده اوددی خلګوحکم څه ده ؟ بینوابعون الله

ځواب :-دی خوراولورحق په میراث کـی شتــه اوپــه شریعت کی معلوم ده چی خوردې وروریه مقابــل کی یوچــــندحصه ده اودی وروردوه چــــنده او کومه چی لورده که یي وروڼه نه وی اولوریوه وی نودپلاریامورپه مـــیراث کی حق نصف ده (نیمي)مال اوکه دوه اویاتردووزیاتی وی بیایي په میـراث کی حق اوحصه ثلثین ده . ددی په هکله الله تعالی ﷻ فرمایي یوصیکم الله فــــــــی او لادکم للذکر مــــــثل حظ الانثیین فان کـــن نساء فوق اثنتین فلهـــن ثلثا ماترک والکانت واحدة فلها النصـــف سورة النسا حکــــم کوی الله تعالی ﷻ تــــــاسوته دی تاسودی اولادوپــــه حـــق کی چی دسړی حصــــه ده دووښــــځو دی حصی برابره ده اوکه صـرف ښځی وی اوتر دووزیاتی وی نوددوی حـــــصه ثلثین ده اوکـــه یوه وی بیانصــــــف ده یعنی نیـمایــــــي اوکوم چی ددی خلګوحکم ده چی خورلـورته په میراث کی حــق نه ورکوی ددوی حــکم ډیر خطرنـــاک ده الله تعالی ﷻ دی میراث بیـــان کوی دهغه نـه ورسته بیان کوی من یعص الله ورسوله و یتعدحدوده یدخله نارا حالداًفیهاوله عـــذاب مهین سورة النساء ایــــات ۱۴څوک چی نافرمانی کوی دی الله تعالیﷻ اودی رسول دی الله تعالیﷻ اوتجاوزکوی له قوانینو دی الله تعالیﷻ داخل به شی اوورته همیشه به وی کی اودده دپــــــــــاره بـه دزلت عــــــذاب وی

دیادونـــی وړده چـــی په ایات مـــذکورکی دی خـالدلفظ راغلی چه همیشه معنی یي کیږی اودا حکم دی کافرده لهذادادی هغوخلـــګوپه بـــاره کی ده چی داتجاوزونه جائزبولي اویاپه داسی ځایودی امام صاحب (رح)په نــــــزد ډیر ځنډمــرادده خـــلاصه داده چی څوک دخوریا لورپه حق تیری کوی هغه دجهنم مستحق ده اوهمدارنګه په حدیث کی دی چی مشکوة ذکرکړی چی کوم واریث له میراث نه محروم کړل شی نوهغه خلګ چی وارث یي محروم کړی په ورځ دقیامت به له جنته محروم کړل شی رواه ابن ماجه بالاخیره دلوریا خورحق نه ورکول ډیرخـطرناک عمل ده اوکبیره ګنــاه ده په داسی عمل کوونکی دی خداي ﷻ دسخت غذاب ویــره ده الله دی مونـــږور څخه وساتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال :-ځنـــی خلــګ وايي خورته پلاردوديدوپه وخت ډيرسامانونه پسې ورکوی لهذا نورحق يي دپلارپه مال کی نشته ؟

ځـواب :- يوخــوهــغه ســـامان دی دلوردمهرپه روپو اخستل شوی وی چی هغه ددی خپلی روپودی اوکه داسامان ددی په مهرنوې اخيست شوی هـــم داعطيه ده له ميراث نه مانع نشې ګرزيدای اوسره له دی چی داپه ژونـدکی ده اوميراث له مرګ نه وروسته وی .

سوال : لور دی پلارپه کوم مال کی حق شـــته ؟

ځواب :-دلورحق دپلارنه پاتې په نغدوروپـوکی اوپه زمکه کی اوپه ټــولو هغوشيـــانوکی چی ترمرګ مخته دپلارپه ملـــکيت کی وودی حـــق شته

سوال :- کـــه چيری دی ناعلمی له وجه ورته دپلارپه ميراث کی حق نـه وی ورکړل شوی نودالله ﷻ دعذاب نه دخلاصون لاره څه ده ؟

ځواب :-هغی محرومی خورته دې وويل شی چی دپلارپه ميراثی مــال کی ستاهم دومره حق شته اياته يي ماته پخښې که هغه ښځه په طيب نفس سره بی له اجبـــارنه داخپل حق ورتــه وبخښې نواميدده چی الله تعالی به يي هم وبخښی اوله عــــذاب نه به خــلاص شی اوکه هـــغه ښـــځه خپل حق ضرور غواړی نوورکول يي لازمی دی

په شريعت کی دکونډی حکم

سوال :-ډيرخلګ کونډې ته هم خپـل حــق نـــه ورکوی اوهغه بـــی دهغی له رضايتــه خپـــل قريب ته دميراث په شکل کی په نکاح کوی ګوياکی ده ته داميراث پــاته ده اوله دنه ماسواء بل څـوک داحـــق نلری چی داکونــډه پـــه نکاح کړی اونــه داکونـــډه اختـيارلری چی په خپله خوښه له چاســره نکاح وکړی داعمل دی پښتنوترکومه حده ناجائزده ؟

ځواب :- دی يوومســـلمان نـــروی اوکــه ښځه حق خوړل هغه که ميراث وی اوکه غيـــردميراث وی په اصـل کی دی اورخوراک ده اوداوعيدونه مخته

تـــيرشواوکـــوم چی داعمل ده چی يوه کونـــډه بی له رضايته دی ميراث په شکل کی په نـــکاح کول دی داهغه ظلم ده کـــوم چی دی جاهليت په دورکی مشرکانوله ښځوسره کول الله تعالی ﷻ په دی هکله داسی فرمايي لايحل ان ترثواالنساءکرها ندہ حلال تاسولره داچی په ميراث باندی وړی ښځی په زبردستی اوزورسره �ددی ايات په نفسيرکی تفاسيرليکی چی دجاهليت په زمانه کی دی حضرت نبی کريم ﷺ تربعثت مخته چی شرک اووهشت و چی کله به دی يو ښځی ميره (خاوند)مړشودهغه د مرده واريثانو به دده دغه کونډه ښځه که بی زړه غوښته ورسره به يي په خپله نکاح کــوله اوکه به يي په خپله نکاح نه ورسره کړه بل ته به يي په نکاح ورکـــوله اوپـــه دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې به ددی رضایت اوخوښــې ته اعتـــبارنه وواوکــله چې به يي نه په خپله زړه غوښـــت چې ورسره نـــکاح وکړی اونــه به يي بل چاتــه په نکاح ورکوله نوپه خپل کورکې به يي بنده ساتله اودهغه کونډې په مال وسامان به يي خيټه اچوله چې کله دعدل اوانصاف قانون اسلام راغی نوالله تعالی ﷻ مسلمانانودی جاهلانواومشرکانو له هغووهشیانه اعمالونه رامنع کړل خوافسوس چې نن صبامسلمانانوخاصکرپښتنو قران پريښې ده اوصـرف ددنیاحاصلولوته يي مخه کړی چې ددنیالاس ته راوړلو تعلیمواودسـیسو ته يي خپل ټول قیمتي وخت ورکړيده چې په نتیجه کې دی داسی مـظالمو خاوندان ګرځیدلی چې په اسلامی نړی کې ساری نه لیدل کیږی

دخپلې خوراويالورنه دهغې خپل مهراخستل

سوال دډيروخلګوخاصـکردپښتنوداعادت ده چې خپله خوريالورپه ډيـرو زياتوروپو ورکوی او دهغی مهرپه خپل جيب کې اچـوی اوهغې تــه هيـــڅ برخه نه ځنی ورکوی بلکی بعضی سخت دله انسانان خوداسې هم کوی چې څـــــوک ډيـــری روپۍ ورکوی نودي خپله لورياخور ورکوی ولـــوکه هـــغه ګوډياړونداوياډيرسپين ږيری هم وی دقران اوحدیث په رڼا کې ددې عمل څه حکم ده ؟

ځواب :-اول خوداچې يوه ښـځه دکـــم مــهرپه بـــدل کـــې پــه نکاح ورکول مستحب ده لکه چې حضرت عمر(رض)فرمايي الالاتغالوابصدقات النــــــساء فانهالوكانت مكرمة فى الدنيا وتقـــواى عنـــدالله لـــــــــكان اولئكم بهاالنــــبى مـــاعلمت رسول الله ﷺ نـكح شيــــــــــأ من نسائه ولاانـكح شيــــــــــــأمن بناته عـــلى اكـــثرمن اثناعشرة اوقية مشکوة ص ۲۷۷ خبردارزيــادت مــکوۍ په مهرودی ښـځوکی ځکه که داعزتمـــندواي په دنیاکی اوتقوی وای په نـــزد دالله ﷻ نوحضرت نبی ﷺ به دې ډيراولې ووزه نيم خبر چې هغــه يوه بې بـــې له بې بيانونه په نکاح کـــړی وی اويـــايوه لـورلـه لورانونه په نکاح ورکـړی وی زيات تردولوسـواوقيو

حضرت ملاعلی قاری (رح)ددی حدیث په شرحه کې لیکی

فان قلت نهيه عــــــــــن المـغلات مخالـــــــف لقو له تعالى واتيتــــــــــم احد اهن قنطاراقـــلت النــــص يدل على الجوازلاعلى الا فضليت والـكلام فـــيها لافيه حاشيه ۴ مشـــكوة ص ۲۷۷ كه څوک ووايي چې دی حضرت عمر(رض)منع له زيات مهرنه دی الله تعالی ﷻ له قول ســـره مخالف ده هغه داچې ورکړی یودی دوی تــه زيات مال زه وايم چې ايات دلالت په جـــواز بانـــدی کـــوی نـــه پـــه افـضيلت اوخبره پـه افضليت دی کم مهرکی ده نـــه پـــه جوازکـــی مطلب داچې په زيات مهرښځه ورکول جائـــزدی اوپــه کـــم مهرورکول يي مستحب دی او همدارنګه دی حضرت ابن عباس (رض)نه روايت ده قـال قال رسوالله خيرالنساءايسر هن صداقا- حضرت نبی ﷺ فرمايي چې بـهـــــتر دی ښځوهغه ښځه ده چې مهريي کم وی اوداسی نور ډيرحديثونه شته دی کم مـهر په افضليت کې پاته شوه داخبره چې دښځوخپل مهرونه هغوی تــه نه ورکول کيږی اوددوی له رضايته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته چی ولی یي چاته وغواړي ورکوی یي داعمل دقران اوحدیث خلاف ده اوپه اصل کی دادي مشرکانو عمل ده الله تعالی فرمايي وأتواالنساءصدقاتهن نحلة یعنی ورکړی ښځوته ددوی مهرونه په طیب نفس خوښه سره ددی ایات لاندی تفسیرمظهری لیکی

قال الکلبی وجمـــاعت هذاخـــــطاب للاولـیا واخرج ابن ابی حاتـــــم عن ابی صالح قال کــان الرجل اذزوج ابنته اخـذ صدقهادونــهافنــهاهـــم عن ذالـــــک فانــزل الله تعالی ﷻ هـذه الایـــــات وکذ قال البـــغـوی کان اذزوج غریباحـملوهـــا الیه علی بعیر ولم یعطو هامن مـــــــــــــــهرها تفسیرمظهری ج۲ ص ۱۰حضرت کلبی اویــوډلی دعلماوویــلی دی چی په دی ایات کی خـــطاب اولــیأوته ده اوابن ابی حتیم له صالح نه روایـــت کوی چی دجاهلیت په زمانه کی دا رواج ووچــی یــوه لوربه یــي په نـــکاح ورکوله نودهغی مهـــــربــه یي له هــغي نـــه واخیست الله تعالیﷻ مســـلمانان ددی عــمل نـه منع کړل اودایات رانازل شوهمـــــدارنــــگه نفسیربغــــوی لیــکلی چی دجاهلیت په زمانه کی دارســـم ووچی یوه پـردی سړی ته به یي کله کومه ښـــځه په نــکاح ورکړه نوپه اوښ به یي ورسپره کړه اوهــغه ددی مهربه یي هغی ښځی ته نه ورکاوه معارف القران دمذکورایات په تفسیرکي لیـکي دجهالیــت په زمانــه کی ښځي لره دکورنی استعمال دیوشی حیثیت ورکړی وو دځاروپه شان به یي خرڅولي دخپل واده په خوښه کی ددی هیڅ اختیـــارنه وواوددوی اختــیار منوولیانوچی چاته ورکولی بس دهغوی به وی ولوکه به ددوی رضا نـــه وه هم دخپلوانوپه میراث کی ددوی هیڅ حق نه وو بلکــی دنورشیانوپه شــان به دوی هم دسړوپه ملکیت کی راتلی اودهغوی دولت به کنټل کیـده اوددی ښځوپه ملکیت اوقبضه کی به هیڅ نه وو شریعت محمدی داناوړه اعمـــال ختم کړل اوښځوته یي خپل انسانیت وباښه معارف القران ج ۲ ص ۲۲۳

که دتفا سیرودغه مذکورعبـــارات زمونږدخلګوله دغــه ناوړه اعمالوسره مقایسه کړو چی دښـــځومتــعلق یي کـــوی نوبلکل دادبي رحـــمه جاهلانو مشرکانو اعمال نن زمان په مسلمانانووکی مجوددی الله تعالی ﷻ دی رحم وکړی که چیرې داښځه بالغه وی اوداسی ځاي ورکړل شـــوی وی چی هغه ځای ددی خوښ نه وی نودحنفی مذهب مطابق ددی ښځي په شـــریعت کی داحق شته چی دانکاح فسخ (ختمه)کړی اوبل ځــــای په خپله خوښه نکاح وکړی خوکه دورکیدوپه وخت کی یي سکوت نـه وی اختیار کړی خوله بده مرغه چی دپښتـــنوعزتمنې اوحیاءناکی ښځي دشرم اوحیاء له وجه داسې عمل ته جرائـــت نشی کولای چی په خپـــله خوښه نکاح وکړی الله تعالیﷻ دی دابي رحمـه اوسخت دله مسلمانان پـوه کړی چـی له داســې خطرنـــاکو اعمالواوظلمونونه لاس واخلي خاصکرله خپل اولادسره داسی ظـــلم کول دانسانیت هم خلاف دی

په شریعت کی ددوهم واده حکم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال :-ځنی خلګ یوه ښځه لری خوبیابــله ښځه کوی چی په نتیــجه کښی دې مختنی ښـځی ژوندډیرخـــراب شی له هغې ســره خپل میره صحی وضع نکوی دهغی په مــال اونفقه اوتقــسیم کی کــمی کوی دشریعت محمدی له نظره دغه عمل څه حکم لری ؟

ځواب :-الله تعالی ﷻ فرمايي چی کـــه تاسوعدل اوانصاف دښځوپه مابين کی نشی کولای نوبیایوه ښځه وکـــړی اویامینځه وکړی چی ځکه چی هغه دومره زیات حقوق نلری لکه چی الله تعالی ﷻ فرمايي وان لاتعدلوافوا حدة اوماملکت ایمانــکم الخ اوهمدارنګه دی ابوهـریره (رض) صـــحح حدیـــث شریــف ده چی رسـوال الله ﷺ فرمايي چـی کوم شخص چی دوه ښځی ولری اودده میــــــــلان یوطرف ته وی نودی بـــه راشی پـه ورځ دقیامت اوپه یوه خوابـه کوږوی اګرکه دزړه په مـــحبت چـــی دیـوی سره زیات اوله بلی سره کم وی پـــه شریعت کی یي کومه ګـــناه اوماخذه نشته خـــوالبتــــه دهـــغی په نفقه اوپه تقسیم کـــی کــمی کول ظلم ده لهذاله مسلماننوسره ظــلم کول بیاخاصــکرله خپلی ښـځی ســره چـی هغــه دمیــره ډیرخـــدمــت کـــړی ډیربـــداونارواعمل اوظـــلم ده الله تعالی ﷻ فرمايي انااعتدناللظالمین نارا یعــنی مونـــږظالمـــانوتــه اوربـرابـــرکړی ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښځو ورکول په بدی ؤکی

سوال :-دپښتنورواج ده چی دخپل منځی دښمنی ختمولولپاره هغه مقابل لوری ته چی دمړي پوريي پری باندی وی دغه بل مقابل دهغه مړی په بـدله کی ښځی ورکوی دشريعت له نګاه داعمل څه حکم لری ؟

ځواب :- داداسې نارواعمل اولـــوی ظـلم ده چی پـــه تمـــام جهـان کی يـي ساری نه ليدل کيږی بلکی دجاهليت په زمانه دمشرکانوپه اعمالوکی چی دښځو متعـــلق يي ډيــــرزيات دانـــسانيت خــلاف ظلــمونه کول هم کوم اثرنه ليدل کيږی چونکی داپه اصل کی دحورو انســانانوخرڅــول دی چـی په شريعت کی ډير سخت حـرام دی دحوروانسانانودخرڅوونکوســـره الله تعالی دجهنم وعده کړيده الله تعالیﷻ انســان بيــا مسلمان ډيرغزتمـــند پيــــداکړيده لکه چی الله تعالیﷻ فرمايي ولقــــدکرمنابـــــنی ادم لهذا دهغو درجه له چارپايانو سره بــرابــرول دقران اوحديث اوعقل سليـم خــــــلاف ده اوبــل په دی عـمل سره د دغې ښځې ټول عمربرباد شی ددغی ښځی رضايت هم ختـم شی اومــــهريي هـــم له منــځه ولاړشی اودادخــداي پاک ددی ايــات خـلاف ده.

واحل لکم ما وراء ذالکم ان تبتغوابأموالکم الخ يعنی حلال دی تـاسولره ددينه ماسواء چی طلب يي کړی په بدله دمهرکی يعنی الله تعالیﷻ فرمايي چی تاسوله نوروپرديوښځوسره نکاح کولای شی دهغونه ماسواء کوم چی مونږحرام کړيدی خوپه بدله دمهرکی ورسره نکاح کولای شی لهذاداعمـل دقـران او حـــديث خـــلاف ده اودخـــپل قريب سره داسې ظلم کول ډيره بې رحمی ده الله تعالیﷻ دی مسلمانان دداسی ناوړه رواجونونه خلاص کـړی

## د نوی نورز د لمانځلو حکم

سوال :- داکـــــثرمســـلمانانورواج ده چی دحمل دمياشتی لمړی ورځ نوی نوروز ډيرپه جـــوش اوخــــروش سره لمــانځی اوپه دی ورځ مـيلی جوړوی همدارنګه په کورونوکی څه شيان پخوی اوبيايي نوروکورونوتــه دتحفی ياتبريکی په شکل وروړی داعمل شريعت محمدی څنګه محکوموی ؟

ځواب :- چونکی داعمل دمجسومشرکانوعمل ده لهــذاله هغوسره دتشبه په وجــه علماوودغــه عمل ډيرخطرناک بلـلی چی هغه ليکی چی که چيری

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهديي اواجتماع دی دغی ورځی دتعظیم په وجه اجراء شی نوبیاکــفر ده او که دتعظیم په وجه نه وی صرف دیـوراوج په خاطروی بیادغه عمل کــفر نده خوالبته نکول یي ښه کارده دبزازيي عبارات په دی هکله په لاندی ډول دی المسلم اذااهدی یوم النیــزوزالی مــسلم اخــرشیأولم یردبه تعظیم ذالک الیوم ولکن جری علی مااعـتاده بـعض الناس لایـکفرولکن لاینبغی له ان یفعل ذالـــک ویفعله قـــبله اوبعده لان لایکون تشـــبهابـــاولئک بل ځای لیـکی وماجرت العادة فی سمرقندبنصب امیرنوروزواجتماع الـــناس وخروجهم الی اب رحمة واجتماعهم ثلاثه ایام واهدی الناس الی امیرنوروزفلاشـک انهم اذاارادواتعظیم الیوم بذالک کفر یعنی کوم چی په سمرقندکی کوم رواج ده چــی دنــوروزلپــاره یوامــیردروی اوخلـګ امیردی نوروزتـه تحفی پیش کوی په دی کی شک نشته چـــی کــه چیری په دی سره ددوی اراده تعــظیم ددی ورځی وی نوداکفــرده لهـــذادداسـی مهلکواعمالونه ډیراجتناب پکارده . والله واعلم

## د ننواتې د پسه حکم

سوال :-یوله رواجونودپښتنوڅخه داروا‌ج هم ده چی دخپل منځې دښـمنی اوخفګان ختمولولپاره هغه مقابل خفه لوری ته چی دغه لوری پری ملامت شوي وی پسونه دننواتې په نامــه ورولې تــرڅوهغه خوشحاله شي بیاهغه خلګ دغه پسه حـلالوی اوپــخوی یي اوپدی روغه جوړه کی موجودخلګ یي خوری په شریعت کی د پښتنو ددی عمل حکم څه ده ؟

ځواب :- کــه دمفــسیرینــواوفقهاووعبارت مخته کیږدواوغورپری وکړو نورامعلومیږی چی داعمل ناجائزاوډغه غوښې حرامې دی تفسیــرکابلی داالله تعالی ﷻ ددی قول لاندی لیکی وما‌اهل به لغیرالله مطلب داچی داالله تعالی ﷻ دنامه نه ماسواء دکوم بــت یاجـن یا مرشدپه نامه یي وټاکې دهغه دتقرب اورضاغوښتنی په نیت یي ذبح حــلال کړی دهغه دخوښـــی په نیت دهغه ځناورساه ایستل مطلب وی ددی ټولودغوښوخوړل حرام دی ولو که دحلالیدوپه وخت کی داالله تعالی ﷻ نوم پری ویل شوی هم وی هــمدارنګه تفسیر معارف القران لیکې کوم یوځـــناورچی دغیرالله دنزدیکت اورضــا

حاصلولولپاره حلال شی یعنی دهغه دوینی تویولوغرض داوی چی داغیر خوشحاله شی اوذبحی حــلالیدوپروخــت داالله ﷻ نوم پری واخستل شی لکه چی ډیــرناخــبره مسمانان دبزرګانـــواوپیرانوپـــه نامه دهـــغوی درضا حاصلولولپاه ځناورذبح کوی اوداالله تعالی ﷻ نوم پری اخـــلی داشـکل هم په اتفاق دعلمأووسره حرام ده اوذبح (حـــــلال)شـوی شی مرداره ده . همدارنګه نفسیربیــضاوی اوتفـــسیرقرطـــبی هــم ددی ایات لاندی داسی نفســیرکړی دتفـــاسیـــرودعبـــاراتومطلب داشوچی کوم ځناوردچادرضا غوښتنی اوخوشحالی دپاره حلال شی دهغی غوښی خوړل حرام دی اګرکه داالله تعالی ﷻ نوم پری ویل شوی هم وی اودرمـختارپه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب ذبائح کی پــه دی هکله داسی لیکې ذبح لقدوم الامیرونحوه کواحــدمن العظمایحرم لانه اهل به لغیرالله ولوذکراسم الله درمــختار کتاب ذبــائح - کوم څناور چی ذبــح حــلال شــی دامیردراتگ په خاطـــــریادنورو لوړرتبه خــلگولـــپاره حرامیږی ولوکه دالله تعالی ﷻ نوم پری ویل شوی هم وی ځکه چی په دی ذبح دغیردناماواوزشوی درمخـتارله دی عباراتونه ورسته ددغه څناور او دهغه څناورچی دمیلمستیاپه خاطـرحلال شوی وی فرق بیان کړیده چـــی دمیلمستاپه پسه کی دغوښو خوړل مــطلب وی اوپه همدی نیت حلالیږی نوغوښې خوړل يي جائزدی اوپه دغه ذکر شوی صورت کــی د غوښوخوړل مطلـــب نه وی بلــکی ذبحه حــلالیدل مطلب وی چی هغه خوشحاله شی نو ځکه دااهــل به لغـــیرالله شونومــرداړده او غـــوښی یـــي حـرامی دی انتهی همدارنگه دننواتې په پسه کی هم حلالــیدل اوخوشحالیدل مــطلب وی او خوړل دغوښو طبعاپکښی راځې بالاخره د مذکروعباراتوپه رڼاکی ویـلای شوچی دپښتنوداعمل ناجائزاودی ننواتی دپسه غوښی حرامی دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شریعت له نظره د بدفالي حکم

سوال :- اکثـــــرخلګ دکونګ په نامه په یوه مرغه بدفالي نیسی وایي چی کونګ دچاپه کورکښـــینی هغه سپیــــره وی همدارنګ دصفری په میاشت بدفالي نیسی وایي چـــی دادبلاوواومصــیبتونومیاشت ده په شریعت کی دفدفالي حکم څه ده ؟

ځواب :-نیک فالي په اسلام کی شته اوجائزده اوبدفالي په اسلام کی منع ده اوداهغه جاهلانه عقایددی چی په عربوکی دحضرت نبی ﷺ تربعثت مخته چی دشرک اوجهل دور ووموجودووچی کله دین اسلام دونیاته راغـي نود جهل ټولی تیاری رڼاشوی اواسلام داسی ناوړه عقایدختم کړل اووربانـدی یي ردوکړ لکه حضرت نبی ﷺ فرمایي لاعدوی ولاطیرة ولاهامة ولاصفر مشکوة ص ۳۹۱ دعـــدوی معـــنی دادچـــی دیـــومرض ســرایت کـول بل ته د جهالیت په زمانه کی داعقیـــده وه چـــی یوروغ انسان به دمریض خـواته نه کښیـــناســـته اونــه بــه یـــي ورســره خوراک څښاک کاوه دموجوده زمانی دډاکترانوهم داعقیده ده چی څوقسمه مرضونه یوبل ته ســرایت کوی لکه جزام ،جرب ،رمــدوغیــره بـالاخره حضرت نبی کـریم ﷺ دجاهلانومشرکانوپه دی عقیده ردوکړ اوویي فرمایل لاعدوی یعنی سرایت کول دیوه مـرض بـل انــسان تـه پـه اسلام کی نشته (ولاطیرة)ددی معنی ده بدفالي لکه چی ویل کـیږی فــلانی سړی په مخه راغی ځکه می کارخراب شوځکه هغه ښه انسان نده داهم دجاهلیت عقیـده وه چی نبی ﷺ پری ردوکړ اوویي فرمایل لاطیرة یعــنی بدفالي په اســلام کی نشته دهرڅه مالک خیروی اوکه شروی الله تعالی ﷻ ده دچــاپه لیدلواوپـه مخه راتللوکی هـیڅ نه پیښـــیږی ترڅوچی داالله تعالی ﷻ ارده نه وی ( ولاهامة ) دایومرغه ده چی دپښتنودرواج مطابق کونګ ده دجاهلیت په زمانه کی هم په دغه مرغه بدفالي کیدله لکه چی اوس یي ډیرمسلمانان په بدفالي نیسی حالانکه چی هغه داالله تعالی یوښاخوان مرغه ده حضـرت نبی ﷺ دمشرکانو په دغه عقیده هم ردوکــړاوویــی فرمــایل ولا هامة یعـنی بدفالي نیول په مرغه چی دچاپه کورکښینی ســـپیره کوی یي داپـــه اسلام کـــی نشتـــه هرڅه داالله تعــالی له جانبه دی مرغه دهیـڅ شـــی مالـــک نـــده ( ولاصفر ) دجهالیت په زمانه کـــی هم داعقیـــده وه چی صفره دبـــلاوواو مصیـبتومیاشت ده حضرت نبی ﷺ په دی عقـــــیده هم ردوکـــړچی ترمیاشتی خیراو شرهیڅ تعلق نلری هرڅـــه چی وی الله تعالی یي کوی خـــــیروی اوکه شرله دی نه علاوه بعضی علمـــاوو بدفالي ته شرک ویـــلی ځکه چـــی داالله تعالی نه ماسواءبل شی هم په خیر اوشرکی مالک بلل کیږی درس مشکوة ص ٦٥٩ مطلب داشوچی په ذکرشویوشیانو لکه کونګ اودصفری میاشت وغیره بانـدی بــــدفالي نیول دمشــــرکانوادجاهلیــــت دزمــانی عقایدوو چی اسلام پری سخت ردوکړخوافسوس چی دپښتنوهررســـم او رواج چی لټـــوی هغه په اصـل کی دکفـــارومشـــرکانویاهندوانورواج وی چی داپــه خورلســـمه صدی کی دجهــل اخـــیره انتهاده له داسې عقیـدونه پرهیزکول لازمی دی ځکه چی داسې عقایددرلودل لویه ګناه اوغټ جـــهل ده .مسلمان بایدله اسلام نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره ناخبره نه وی چی خپل اسلامی عقایــد له نوروڅــخه نشی جلاکولای . سوال :- که له یوې خواحضرت نبی ﷺ فرمايي چی دمرض سرايت کـول له یوو نه بل ته نشته خوله بلی خوتجربې داثابته کړیده چی دیووانسان مـرض بل ته سرایــت کړیده اوهمــدارنګه دحــضرت نبی ﷺ په بل حدیث شریف کی دی فرمن المجذوم فرارک من الاسد یعــنی دجزام په مرض باندی له اخــته انسان نه داسی تیښته کوی لکه له زمری نه ددی حدیث شریف مطابقــت له مختـه حدیث سره څه ده ا ودتجربی په هکله ځواب څه ده ؟ ځواب :-په دی خبره کی شک نشته چی صحت اومرض اوهرڅه دالله تعالی ترارادی پوری اړه لری خوالبته دی مسلمانانوعقیدی داسی جوړی شــوی چی زه له مریض سره په تعلقاتوپه مرض اخته کیږم لکه الله تعالی فرمــايي اناعلی ظن العبدی یعنی زه دخپل بــــنده په ګومان یم هغه چی څه ګــمان کوی نوزه هم هغسی ورپیښوم نوپه حقــیقت کی دتجربی داخبــره هم دالله تعالی په اراده سره ده ځکه خوچی کله لـــه حضرت نبی ﷺ نه پوښتــنه وشوه دهغی صالح اوســالیم اوښ پــه هکله چی له اجربو(خارښی)اوښـــانوسره ګډشوی وواوپه مرض اخته شوی وونوحضرت نبی ﷺ وفرمايل فمن اعــــدی الاول یعنی اول اوښ ته دامـــرض دچـــانه سرايت کړی بلکی داټــول دالله تعالی لخوادی اودحضرت نبی ﷺ ددی حدیث چی فرمن المجذوم الخ مطلب داده چی تاسوله داسی مریضا نونه لری وه اوسی چی هغه دجزام په مــرض اخته وی ترڅوستاسوعقیدی صحح اوسالیمی پاتــه شي ولی که تاســود داسی مریضانوسره تعلقات لرئ اوتاسومریضان شي نووایاست به چـی زه ځـــکه په دی مرض اخته شـــوم چی ماله دغـــه مـــریض سره تعلقات لـــرل اوحالانکه داغلطه عقیده ده نودصحح عقیدی جوړولواوپه همدی صـحح عقیدی دپاته کیدوپه خاطرحضرت نبی ﷺ داسی وفرمايل فرمن المجــذوم الــخ ورنــه په حقــیقت کــی هرڅـه دالله تعالی لخوادی خیروی اوکه شر دیادونې وړده چی دمسلمانــــانولاندی رواجونه هم په بدفالی کی داخـــل اوناروادی لکه په نوی دوستـــــی کی له ډوډی خوړلونه ورسته دوستانوته لاس نه ورپریمنځل ،دخسرپه کورکی ناوې تردریوشپوپوری په ځنـخولی کی کښـــینول چــی اکثرلمنځونه ورنه قضاوی همدارنګه دقبرکندولوپــه وخت کی چی کرهان سره ووهــل شی وایــي چی بل مړی کیږی همدارنــګه خلګ وايي کلیانی مه اړوی جنګه یاغم پېښیږی اووايي مسافرتللی جارو مـه وهی مسافرته تاوان رسیږی اووايي وړوکی هلک په سرپه چپلاخه مــه وهی یتیم کیږی که څه هم په سروهنـه شرعـــاً ناجائـــزده همــــدارنګه وايي ددواختــــرونوپه منځ کی واده مــــکوی غــــم پیښیږی حالانکه دغه دشعیه ګانورواج ده اووايي په ســــپینه ټنډه ناوی مه راوړی مرګ یاغم جوړیـږی اوهمدارنګه په ډیروناویوبدفالی کیږی چی وايي ددی ناوی دراوړلوســره په کورکی غمونه دی ټنډه یي نشوه راپوری بختوره ماخـــذخلاصة الفقه والعقاید لهذا داټول نارواراواجونــه دی اوحــرام دی ځکه چی هرڅــه دالله تعالی لــه جانبه دی خیروی واکه شروی ترمختـــنیوشیـــانو پوری هیـــڅ شی تعـــلق نلری بلکـــی تردغــوشیانوتعلق ورکول بدفالی ده اوبدفـالی په اسلام کـــی نشته بلکی علماًووورته شــــرک ویلــی ده الله دی مــونــږله داسی عقایـــدو څخه وساتی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خالونه وهل حرام دی

سوال :-دډيروپښتنوښځورواج ده چـــې دی وديـــدوپروخت پـه مخ خالونه وهی اوبعضی سړی هم پــه لاسونوخالونه لګوی په شريعت کی ددی عــمل حکم څه ده ؟

ځواب :-خالونه وهل حرام دی اوپه داسې عمــل کوونکی دخداي ﷻ لعـــنت ده اوپه کوم ځای چی خال وهل شوی وی هغه نجس ده که په علاج سره لـری کیدونولری کـــول يي واجـب دی حضرت نبی ﷺ په دی هکله داسی فرمــايي لعن الله الوصلة والمستوصله والواشمه والمستوشمه مشکوة ص ۳۸۱ يعنی لعنت کړيده الــه تــعالی په ويښتانولګـــونکی ښـــځه باندی اوددی عمل په طلب کوونکی بانــــدی اولعنت کړيده الله تعالی په خال لـــګونکو ښځوباندی اوددی عمل په طلب کونکی بــــاندی حضـــرت امام نووی (رح)

ددی حديث په شرحه کی ليکی داحديث شريف صريح ده په حراموالی دی خال وهلواوويښتانولګــولوکی اودادواړه حرام دی مطلقاً په فاعل اومفــعول دواړوباندی اوپه کوم ځــای چی خال ولګيږی هغه نجس ګرزی که چيـــری لری کول له منځه تلل يي پـــه علاج سره کيږی نولری کول يي واجب دی اوکه نه لرکیدومګرپه زخم ســـره په داسې حال کی چی ټول اندام يي ضايع کيږی اويا له کاره لـويږی اويايي حســـن ښايـــست بلـکل ختـــميدونوبيــايي لری کول واجب ندی البته توبه ايستل ضروری دی اوپه تاخيرسره يي ګنهګاريږی حاشيه مشکوة ص ۳۸۱ خوبدبختانه چی ددی عمــــل کوونکی تـــه داعمل بلـــکل حرام نه ښـکاری نولری کول خويي خود نشته اوتوبه ايستل له دی عمــل نه يي په خاطـــرکی هم نه راځې بالاخيره داډيربدعمل ده او نن صبا په ډيرکثرت سره اجراکيږی ددی کتاب مطالعه کـــوونکی نه زمــا داهيله ده چی بايدامسئله په خـــپل اهل عيال باندی هم عملې کړی اونوروته يي هم ورسوی

## دالله تعالی ﷻ نه پرته په بل شې قسم کول

دډيـــرونــــاعلمه خلګوخاصکردپښتنوعادت ده چی دالله تعالی نه پرته په نوروشيانوهم قسمونه کوی لـــــــکه په جماعت ،کعبه اوپه پيرصاحب ايــا داسی قسمونه کول جائــزدی اودحضـــرت عمر(رض) ددی حديـــث شـــريف مطلب څه ده من حلف بغيرالله فقداشرک وفی روايت فقدکفر يعنی څوک چی دالله تـــعالی نه پرته په بل څه قسم وکړی نوهغه شرک وکـړ اوپه يوه روايت کی دی چی هغه کافرشو؟ ځواب :-حـــلف قســم کول دالله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی نه پرته په بل څه حرام دی اونــه دغه قسم پوره کول ضروری دی او نه دالله تعالی نه پرته په بل څه قســـم کولوته قسم ویل کیږی هدایة په باب الیمین کی لیکی فالیـــمین باالله دون غــیره یعنی قسم صرف دالله تعالی په نوم کیدای شی نه په بل څه په بـــل ځــای کی لیکی ومن حلف بغیرالله لم یکن حالفـاکا لنبی ولکعبه وکذااذاحلــف بالقران لانه غیرمتعارف یعنی چاچی قسم وکړ دالله تعالی نه ماسواء په بل شی هغه قسم کونکی نده لکه په نبی ،کعبه اوقران قسم کول ځــــکه چی دا متعارف مشهورنده . اودحضرت عـــمر(رض)حـــدیث علـــمأوو د حدیث په کفران نعمت اویاشرک خفی باندی حمل کړیـــده یعنی شرک نـده خوبیـــاهم یوخـــطرناک قول ده ځکه چـــی یوخودالله تعالی نه پرته په بل څه قسم کول حرام دی اوبل دهغه سړی چی دالله تعالی نه پرتــه په بل څـــه قسم کړی ددپه دغه عمل دده نیک اعـمال ختمیږی لهذاله داسې اعمالونه ځان ساتل ضروری دی (مأخذهدایة باب الیمین والفجرصادق ص ۷۵)

یوصاحب رتبه شخص ته دلټیدلوحکم

سوال :-داکثرخلگورواج اوعادت ده چی کله یومجـــلس ته یوصــاحب رتبه شخص راشی نوپه دی مجلس کی ناست خلگ دهغه لپاره تعظـــیماًلټیږی دمسلمانانودغه عمل دشریعت موافق ده اوکه نه ؟

ځواب :-په دغـــه مسئله کی علـــمأمخـــتلف دی بعـــضی علمـــاوایـــي چی دچادپاره تعظیماً لټیدل مطلقاً جائزندی ځـــکه چی حضرت نبی کریم ﷺ پـــه تعظیم سره ښه لایق ووخوهغه صحابه (رضی الله عنهم )له دغه عمل نه منع کړل اوځنی نورعلماوی چی که دالوړرتبه شخص داغواړی چی ماته دی خـــلگ ولاړشی نوورته لټــــیږی دی اوکه نه غواړی نونه دی ورته لټیږ ی حضـــرت مولاناعبدالحی (رح)لیکی چی حقه خبره داده چی کومه حضرت امام غزالی (رح)اختیارکړیده چی لټیدل تعظیماًمطلقاًجائزدی که هغه لوړرتبه شـــخص غواړی اوکه نه دهغه دخوشحالی اوعزت لپاره نفع المفتی والسائل ص ۱۲۷ خوبایـــدووایوچـــی صاحب رتبه سړی په زړه کی داتقاضابایدو نکړی چی ماته دی خلگ ولاړشی ځکـــه چی په حـــدیث شریف کی په دی ډیرســـخت وعیدموجودده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په مسجدکې ددنیاوی خبروکولوحکم

سوال :-دی پښتنورواج ده چــی په جماعــتونوکی منــجلسونه کوی اودی مهمان خانوپه شکل یي استعمالوی دپښتنوددغه عمل حکم څه ده اودالله تعالی ددی ایات مطلب څه ده ؟ وان المساجدلله فلاتدعوامع الله احدا مســجدونه دی الله تعالی کورونه دی تاسو مه بولی په مسجدوکی دالله تعالی نه سواء بل هیـــڅوک

ځواب :-په جماعتونوکی دنیاوی خبری کول بعضی کتابولکه خــزانة الفقه حرام بللی اوهمدارنگه په بــعضی احادیـــثوکی په دی باره کی ډیرســخت وعیدونه راغلی اودی ذکر شوی ایات په باره کی تفسیراحمدی لیکی چی ددی ایات ډیرتفسیرورنه راغلی خو واضح تفسیريي داده چی دایات نـازل شو لپاره دمنع کیدودی خبرودینوی ووپه مسجد کی له جهته دتعظـمه دی مسجدځکه چی دادی الله تعالی کورونه دی لهذاتعظیم یي پکارده نولایق له هغه چاسره چی دی الله تعالی اودی رسول الله ﷺ اطاعت کوی داده چی په مسجدکی صرف عبادت اوذکرووکړی نه بل شی . انتهی

سوال :- دی سنتوځایـــونـــه چی نن صباله مســجدوسره جوړیږی که په دی کښی دنیاوی خبری کیږی دابه هم جائزنه وی لکه په جماعت کی ؟

ځواب :- دی سنتوځایونه چونکی دی مسجدپه نیت نه جــوړیــږی بلکی له اوله نه دی منجلس لپاره په نظرکی نیول شوی وی لهــذادی سنتوځـــایونه دی مسجدوحکم نلری خو چونکی دامنجلسونه دی مازدیگراوماښام ترمنځ کــــیږی اودی سهـــر په وخت کی له لــمانځه نه ورسته کوم چی داډیـر دبرکت وختونه دی اول خوپه دی وختوکی پټه خوله کښیناستل هم دذکــر په شان ثواب لری نوپټــه خوله کښیـــناستل پکاردی اوکـــه خبری کوی نو مناسبه داده چی له بیهوده اوبیکاره خبرونه پرهیـــــزوکړی ځکه چـــی نبی ﷺ فرمايي ومن لم یقل خیراً فلیصمت یعنی څـــوک چی دخیرخبری نکوی نـــو پټه خوله دی کښینی

په نوکانودرنگ لگولوسره اودس نه کیږی

سوال :- یونوی رسم دښځوداهم ده چی په نوکانورنگونه لگوی ددی عــمل په کولوسره په اوداسه اوغسل کی کوم تغیرراځی اوکه نه ؟

ځواب :-په اودس اوغسل کی داضروری ده چی نوکانوته اوبه ورسیږی که چیری داسی یومانع موجودشي چی نوکانوته اوبه نشی رسیدلای نواودس نه کیږی دنـــوکانـــورنـــگ هم داســی ده چی نوکانوته اوبه نه پریږدی لهذا علمأووپه دی فـــتوی کـړی ده چی دنوکانو درنگ سره اودس نه کیږی اود دی اصل دی علمگیری لاندی الفاظ دی اولذق باصل ظفره طین یابس اورطب لم یجز علمگیری ج ۱ که په اصل دنوکانوپوری وچې یالندې ختې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښتې وی نواودس نه کیږی . بالاخیره دی نوکانورنـګ لـــګولوسره اودس نـــه کیږی که چیرې دارنـــګ لګیدلی وی نوضروری ده چی داودس کولوپه وخت یې وګروی (لری)کړی ځکه چی داډیرخطرناک عمـــل ده مســـلمانانوته پکارده چی خپل اهـــل او عیال دداسی اعمالونه رابندکړی کنه مسئولیت به یې دی ټولوپه غاړه وی حضرت نبی کریم ﷺ فرمايي کلکم راعی وکلکم مـسئول عن رعیتیه یعنـــی هریودتاسونګهبان ده اوهریودتاسومسئول ده له خپل رعیته یعنی اهـــــل اوعیال نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دطریقت اثبات دقران اوحدیث نه

سوال :-بدبختانه چی ځینی خلګ له طریقت اوبیعت نه انــــکارکـوی وايي چی داله کوم ایات اویاحدیث نه ثابت نده که په دی هکله معلومات راکړی څودوهابیت پسنده خلګوغلط فهمی زائله شی ؟

ځواب :- بیعت یاطریقت یاپه پښتوساده ژبه لاس نیوی دقران اوحدیث نــه ثابت ده اوورنه انکارکول صرف جهل اواتباع دهواده اودشیطان دوسوسو پیروی ده دطریقت څلورطریقې نقشبندیه قادریه سروردیه چشــتیه دنـــړی په ګوټ ګوټ کی موجودی دی اوحق دی په لکهاوواومـــیلیونوعامـــلین لری اوپه څلورومذهبوکی تراوسه په دی طریقوهیــڅ یوعالم نه ردکړی نـــه یي داعمل دشریعت خلاف بلـلی بلکی ټـــولوعلــمأوودااعمل په دین کی یوضروری عمل بللی ده اوپه خپله علمأ ووچی دصحابه وونه ورسته دوی دحق لارښوددی دطریقت دغه عمل اجراءکړی اوځانونه یي پکښی داخـــل کړی اونوروته یي هم په دی عمل باندی توصیه کړیده بعضی اهل حـــدیث یا غیرمقلیدین دبعیت نه انکــــارکوی حالانکه چی دادنیـــاپه ســـریومفسده اوبی ادبه اودشیطان دخوهیشاتوتابع فرقه ده دبیعت ثبوت له قرانه علمـــأ په لاندی ایات کې ښيی یاایهاالنبی اذاجاءک المومنات یبایعنک الایة ترجمه اي پیـــغمبره چی کله تاته مسلمانی ښځی راځی اوله تاسره په دی خبره بیعت کوی چی له الله تعالی سره به شریک نه جوړوی اونه به غلاکوی اونه به زناکوی اونه به خپل بچیان قتلوی اونه به په کوم بهتان راتګ کوی چی دخپلولاسو اوپښـــوپه مابین کی یي جوړکړی وی نه به ستانافرمـــانی کوی په مشروع اورواووکاروکی نوروسره بیعت وکړه بیان القران حکیم الامت مولانااشرف علی تهانوی ددی ایات په حاشیه لیکی چـــی دا ایات په دی خبره واضح دلالت کوی چی بیعت په اسلام اوقران کی ثابت ده اوله حدیث نه دبیعت ثبوت دعباده بن صامت روایت ده قال علیه الصلوة والسلام وحـــــوله عصابة من اصحابه بایعونی عــــلی ان لاتشرکوابالله ولاتسرقواولاتزنوا الخ بخاری ترجمه چی حضرت نبی ﷺ وفرمایل اودده اردګردپه شاوخوادصحابه وویـوه ټولی وه چی ماته بیعت راکړی په دی چی تاسوبه له الله تعالی سره شـریک نه نیسی اونه به غلاکوی اونه به زناکوی اوتراخیره دحدیث شریف حضرت مولاناذکریا(رح)ددی حدیث شریف لاندی لیکې دحضرت نبی ﷺ دغه بیعت دصحابه وونه نه بیعت داسلام ده نه بیعت دجـهاد بلکی داعینی هغه بـــیعت ده چـــی صوفیه حضرات خلیفه ګان یي په امورو داسلام باندی دټینګښت لپاره اخـــلی حضـرت مولاناعبدالغفورعباسی لیـــکی چی داحدیث په دی تـصریح ده چی دبیعت اسلام اوجهادنه علاوه په ترک دګناهواوپه التزام دنیـــکواعمالوهـــم بیعت دنبی ﷺ پـــه زمـــانه کی موجودوو دمحدث جلیل مولاناخلیل احمدسهارنپوری نه سوال وشو ایاستاسویعنی داهل سنت والجماعت په نزدباندی مشغولیدل په اعـمالو دصوفیه ؤباندی اوورنه بیعت کول جائزدی اویاتاسوپه دی قول کوی چـه رسیـــدل دهیغوفـــیوضـــوباطـــنه چی لـــه سینودبزرګانواویاله قبروددوی چی نوروته به رسیږی اوهغه فایده ځنی اخلې داحق دی ؟ په ځواب کی لیکی یستحب عندنااذافرغ الانسان من تصـــحیح العقاید وتحصیل المسائل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الضروريه من الشرع ان يـــبايع شيـــخاراســـخاالـــقدم فی الشريعة زاهدافی الدنيا راغبافی الاخرة الخ يعنی مستحب ده زمونږداهل سنت په نزدباندی چی کله یوانسان فارغ شی له صحح کولودعقایدوڅخه اوله حصـــلولودضروری مســـائلودشریعت نه نوبایدبیعت وکړی له یوه شیخ څخه چی هغه راسیـــخ القدم وی په شریعت کی اوبې پرواه وی له دنیا نه اوطلب کونکی داخیرت وی عقایداهل سنت والجماعت ص ٢٦

دبیعت ضرورت اودصحبت شیخ ثبوت له قران نه

سوال :- ایابیعت کول ضروری دی ؟

ځواب :- ددی متعـــلق حضرت اشـــرف عـــلی تـــهانوی (رح) په خپل کتاب التکشف ص ١٢٦ کی لیکی چی لکه څرنګه دمرض ظاهری دعـــلاج لـــپاره دیوداسی طبیب ضرورت ده چـــی په خـــپله هم صـــحح اوتندرست وی اود نوروعلاج هم کولای شی همدارنګه دمرض باطنی دعـــلاج لپاره دداســـی شـــخص اومـــرشـــد ضرورت ده چی په خپله هم متقی اوصالح وی مبتدع اوفاسق نه وی اودنوروهم تکمیل اوتصحح کولای شی (انتهی) لکه څرنګه چی مخته تیرشوحضرات صحابه باوجودددموره کمالاتـــوچی هریویي ددین ستوری اورڼـــاوه اودهــــدایت ورانګی ددوی په اقتداءکی مستوری وی چی دیوه ادناصحابی درجه اومرتبه یي داوسنی زمانی له یوه غټ ولی نه اوچته اوبلنـــده وه خوبـــیاهم دوی دحضرت نبی کریم ﷺ ســـره په ترک دمعصیاتوبیعت کاوه نودنن زمـــان مســـلمانان چی دډیروبد بختـــیو اوناروااوښکاراومرتکب دی څنګه کولای شی چی دجهل اوضـــلالت پـــه توره تیاره کی خپل مقصدته ځان ورسوی ترڅوچی یي یورهنمادځان لپاره نوی غوره کړی داسی رهنمایان اولیالادنړی په ګوټ ګوټ کی موجـــوددی هرانسان ته لازمه ده چی داولیالاووسره تعلق پیدا کړی اوپه هغوی دشـــــو

یوبرکاتواوانواری الهی فیوض څه ناڅه ځان ته راجلب کړی لـــکه چی یوشاعروایي  دعطارپه دکان کښینه چی عطارشی - خودبه سوزی چی ملګری دلوهارشی

اوالله تعالی دنیکوبندګانوسره په تعلق درلودلوسره مسلمانانوته توصیه کوی اوفرمایي واتبع سبیل من اناب الی ترجمه متابعت کوه په دین کـی دلاری دهغه چاچی رجوع یي کړیده ماته یعنی له هغوسره تعلق جوړکړه بل ځای الله تعالی فرمايي واصـــبرنفســـک مع الذين يدعون ربهم بالغداوة والعشی يريدون وجهه ترجمه اوبند کړه نفس خپل له هیغوکســـانوســره چی بولي رب خپل په سهاراوبیګاه کی اوارده کوی په دی سره رضـــادالله تعالی بل ځای الله تعالی فرمايي ياايهالذين امنوااتقوالله وكونومع الصادقين ترجمه اي مؤمنانوووېرېږی دالله تعالی نه اودصـــادیقـــینو ریښتینو)سره وواوسی مولاناذکریا(رح)لیکي چی مفســـرین وايي دریښتینونه مراددتصوف شیخان دی ځوک چی ددوی ددرشل خدمتـــګار شی نوددوی دتربیت اوروحانی قوت په برکت دابنده لویـــي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویـــي تـرقی کوی تبلیغ نصاب ص۳۱ الله تعالی په مذکروایاتونوکی صراحة بیان کـړی چی که تاسوتقوی کـــوی نودصادیقیـــنواولیالاؤمعیت یوځای والی اولـــه هغوسره صحبت اختیارکړی

دبعضی شـاعرانواقوال هم دی طرف ته رابلل کوی لـــکه یوشاعرلیـــکی صحبت صالح تراصالح کند ـ صحبت طالح تراطالــــــح کند

یعنی دنیک صالح مجلس به تانیک کړی اودبدمجلس بـــه دی بـــدکـــړی یوبل شاعرلیکی

هرکه خواهدهمنشینی باخدا گونشینـــدرحضـــوراولیـــاء

هرڅوک که غواړی یوځای والی له الله تعالی ســـره ورته ووایه کښـــینه په حضورداولیاؤکی

دشیخ شرائط

سوال :- له څنګه شخصیت څخه بایدبیعت وشی ؟

ځواب هغه شخص چی ورنه بیعت کیږی دهغه دپاره علماوولاندی شرائـط بیان کړیدی بایدمتقی اوصالح وی دســـنت تابـــع وی مبتدع بایـــدنه وی دینی علم په قدردضرورت ورته حاصل وی عاقلان عالمان دهغه طـــرف ته مائل وی دهغه صحبت اومجلس بایدمؤثروی اودهغه دصحبت اومجـــلس نه دمریدانودعمل اصلاح کیـږی هغـــه اشـــخاص چی په مذکوروشرائـــطو سنبال نه وی قابل دبیعت نده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنازی او میت مسائل

### د جنازی نه بعد د دعا حکم

سوال :- دجناز ی نه بعدپه اجتمــاعی صورت سره دعأکول مستحب ده که مکروه؟

ځواب :- دی مــیت قریــبــان دخپــل میت دپاره پــه انـفـرادی صــورت ســره چــی هــروخــت وغواړی دعأکولای شی البته دجنـازی نه بعدپه اجـــتماعی صورت سره دعاکول دصحابه کرامــواوتابعینواوتبع تابعـــینونه ثـابته ندده لـهذادفقهی حنیفی ډیرمعتبروکتـــابونو دغه عمل مکروه بللی اوور ښخه یی منع فرمایلی ده لــکه چی په محـــیط کی لیـــکی:- ان الد عابعدصلوة الجنازه مکروهه محیط باب الجنائز�دجـــنازی نه بعددعاکول مکروه ده په خلاصة الفتاوی کی لیکی لایقوم بالدعأفی قرأة القران لاجل المیت بعدصلوة الجنازة وقبـــلهاج۱ ص ۲۵۵

دجنازی نه بعداویامخــــــته دمیت لپـاره سورت ویــل اودعاکـول دی نــه ووشی

په فتاوی سراجیه کی لیکی

اذافرغ من صلوة لایقوم بالدعـا ص ۲۳ چی کــله دجنازی نه فارغ شي نوددعادپاره دی نه درېږی په بزازیه علی هامش عالمگیریه کی لیکی

لایقوم بالدعابعدصلوة الجنـــــــــــــــــــــــازة لانــــه دعـامرةً ج۱ ص ۲۸۳ دجنــازی دلمانځه نه بعددعادپـاره دی نـه د ریږی ځـکه چی هغه یواردعــــــــاکړیده یعنی په جنازه کی

په بحرالرائق کی لیکی ولایـدعــــوبعـدالتسلیم ج۱ص ۱۸۳ وروستـه لـه سلامـه دی دعـانـکوی

ملاعلی قاری (رح)په مرقات کی لیکی

لایدعواللمیت بعدصلوة الجنازة لانه یشبه الزیادت فی الصــــــلوة الجـنازةمرقات ج ۲ ص ۲۱۹ دجنـازی دلمانـځه نه دی وروسته دی دعانکوی ځکه چی دازیادت ده په لمانځه دجنازی کی

خضرت مولاناعبدالحی (رح)لیکی

عن ابی بکرحامدالدعابعدصــــلوة اجنازة مکروهة نفع المفتی والسائل ص ۱۳۴

ابوبـکرحامدوایـی چی دعاورسته لــه لمانځه دجـنــــازی نه مکروه ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجموعه خانی قلمی لیکی

دعانخواندوفتوی برین قـــــــول است ص۳۴۹هکذ فی جامع الـــرموز ج ۱ص ۱۲۵

دعادی نـــه کـوی فـــــتوی پــه دی خـــــــــبره ده.

حیـــــــــــلة اسقـــــــــاط

سوال :- مروجه حیله اسقاط چی دهرعام اوخاص لپاره جوړیږی ښـگه ده؟

ځواب :- بایدووایوچی حیـــــله اسقــاط ثابتـــه ده اودفقهی حنیـــفی پـه معتبروکتابوکی ددی ذکرشـــته خـــــوالبته مروجه حیله اسقاط دبعـــضی نقصاناتوله وجی خوندوره نده هغه نقصانات چی په مروجه حیـــله اسقاط کــــــی مـــــوجـــوددی په لاندی ډول دی (۱) داچه داحیله فقهـــاووصرف دمسکینــــــانودپاره تجویزکړی حالانکه چی نن صبادهرخومره ډیرمالدار

دپاره هم داحـــیله جـوړیږی چی دادحقیقت خلاف ده بل داچی په دی حیله کی دثلث مال لحاظ نه کیږی اودیـتیم بچیانوحق نه ساتل کیږی بل داچـــی حیله اسقاط نن صبا یورواج گرځیــــدلی ده که یوډیرغریب مسکین وراث وی هم درواج اوپښتونوالی په خاطر بــه ضـــرورپه خپل مرده پسی اسقاط ورکوی ولوکه روپی پـــه قرضه اوســود ورتــه اخـلی هم اوبل داچی داحیله

اقلاًیومستحب عمل ده خودعواموپه نزدداحیله مســتحب نه بلکی واجب یافرض ده اوحلانکه هرمستحب چی دی درجی ته ورسیـږی هغه مکروه ده لکه درمختارلیکی سجـــده الشــــکرمستحبة به یفتی لکنهاتکره بعد الصـلواة لان الجهله یعتقدونهاسنةوواجبة درالمختارقبـیل باب اعتکاف یعنـی سـجده دشکرمستحب ده اوفتوی په دی خبره ده لاکن له لمانځـــه نه ورسته يي کول مکروه دی ځکه چی ناعلمه خلگ په هغه باندی دسنـــت یـا واجب گمان کوی ځکه خوعلمـــگیری هم لیکی قالوا هذاذلم یتخذ عـــادة بل فعـــل ذالـــک احیانا امــــااذااتخذذالک عادة له فانه یکره علمـــــــگیری کتاب الحیل ج ٦ ص ۳۹۰ ځینی خلگ واي التزام ناجائزده دوام جائزده په داسی اعمــالوکی دوام ده نه التزام ځواب داده چی دوام هم هروخت جائزنده علامه شـامی لیکی لاینبغی ان یقراء سورة متعینه علی

الدوام لئـلا یظن بعـض الناس انـــه واجب ج۱ ص ۴۰۲ یعنی نده مناسبه خبره چی یـــوســـورت معـــین همـــیشه وايي ددی لپاره چی بعضی خلگ په هغه باندی دواجب گمان نه وکړی همدارنگه ملاعلی قاری لیکی الدوام علی امرمندوب قـدیوهـم العوام فی الغلط ویعتقدونهالازما- مرقات ج۲ ص ۲۹۴

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنی همیشه توب په مستحب کارباندی کله کله عوام په غلطی کی اچوی اوهغه داعقیده کوی چی دالازم ده بایددوام نه پری ؤشی په مروجه حیــــله کی دوام نه بلکی التزام موجـــودده بالجمـــله حیله فی نفسه یــومستحب امرده ځکه خوزمونـــږاسلافـــودغه عمـــل کړیده خوالبته عوامودغه حیله دمذکوروشرائطـــوپه وجـــــه دیته مــــفضی کړه چی مکروه شی ځـــــــکه خوملانارشیداحمدلیکی حقـــوق مالیه له حقـــــوق دی اداکولـوادکیږی اوحقوق بدنیه لکه لمونځ اوروژه په فدیه ورکــولـواداکـــیږی بـاقی پـاتی شـوه مروجه حیله اسقاط دامحض لغوه اوبی هوده حلیه اوپـــه خـیرلقــرون کی ددی هیـــځ اثرنه لیـــدل کیږی فتاوی رشیـــدیه ج ۱ص ۱۲٦ خـــوکه بیاهــم دحیــلی ټـول شــرایط په نظرکی ونیول شی اواصلاح شی کول یی ښـه خبره ده خومشکل داده چی په ټول شرائطوبرابرحـیله انجام کول نامـــکنه خبره ده هذاماعندی وللناس فیمایعشقون مذاهـب.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تعـــــــــــزیه

سوال :- دی خلګورواج ده چی دجنازی نه بـعددمړی وارث په جمــاعت کی تردریوورځو پوری ناست وی اونورخلګ ورته راځی ورته تعزیه کـوی چی ددی دپاره دنیالیواو بالښتونوخاص انتظام وی اوله نوروکورونو چـایونه راځی چی دمـــړی دوارث دکـــورچــای هم پکښی وی ایـاداعمل صحی ده اوکنه ؟

ځواب :-دغه عمل بعضی کتابونومطلقاًمکروه بللی ولوکـه تعزیه مستحب ده لکه چی رد المحتارلیــکی

وفی الجلوس للتعزیه فـــی غیر المساجد وامافیــــــه فیکره وفی الامدادقــــال کثیر من ائمتنایـــــــــکره الاجتماع عندصـــــــــاحب البیت ویکره له الجــــلوس فی بیته حتـــــــی یاتی الیه من یعزی الــــخ قلت وهل تنتفی الکرهت بالـجــلوس فی المـسجد وقرأة القـــران حتـی اذافرغو اقــــام ولی المیت وعزاه الناس کمـــــایفعل فی زمننا قال الـظاهر لالکون الجلوس مقصــودا للتعزیه لالقرأةالقـــــــــران ردمحتارص٦٦٤ج١ خبره په کـښیناستلولپاره دی تـــعز یـــی په غیردی مسجدکی ده اوکوم چی پــــه جماعت کی تعزیه اخیستل دی دامکروه ده اوپه امـــداد کی دی چی ډیروزمــــوږ امامانوعلماوویلی چـی دی دمـــــــړی په کورکی جمع کیدل دا مکروه ده او دمړی دوارث لپاره هم دامکروه ده چـی په کور کی په دی نیـت کښینی چی خلـګ ورته راشی اوتعـــزیه یی وکړی علامه شامی وایي چی مـــــاوویل چی په دی کراهته ختمیږی چی په جـــماعت کی کښینی اوقرأت ووایي اوبیاخلګ دمړی وارث ته تعزیه کوی کوم چی زمـــوږپه زمانه کی رواج ده ده وویــــل چی ظـــاهره داده چی صحیح نـده ځکه مقصـــــودکښیناستل لپاره دتعزیه وی نه لپاره دقـــــراة قران اوهمدارنګه فتاوی تاتارخانیه لیکی

الجلوس فی المسجدثـــــلاثه ایام للمصیبة مکروه ص ۱۸۳ج۲ په مســجدکی دری ورځی کښیناستل دمصـــــــــــیبت دپاره مـــــــکروه دی اوفتاوی عالمګیریه دخزانة الفتاوی په حواله سره لیکي

وفی خزانة الفتاوی والجلوس للمصیبة ثلاثه ایام رخصـــــــة وترک احســـــــــــــن ج١ص١٦٧ اوپـــــــــــه خزانة افتاوی کی دی چی کښیناستل لپاره دمصیبت دری شپی رخصت ده خـو پرښودل یی ښه دی که په بعضی کتابوکی تردریوشپوپوری تعزیه فـاتحه اخیستل جائز لیکل شـوی هم دی خو ددی خاص انتظام سره چی پـــه مروجه فاتحه کی دی هغـه هم جوازنه ورکوی.

لکه په تبیین الحقایق کی لیکی

ولاباس بالجـلوس الی ثـــلاثه ایام من غیر ارتکاب محضور من فرش البسط والاطمــــــعه لانهاتتخذعندالسرور ج١ص ٢٤٦ څه بـــاک نشته لپاره دکښیناستلودی فاتحی تـر دیریو ورځوپوری ترڅوچی ممنوع شـــی نـــه وی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورســره پیوسته شوی لکه غوړول دفرشواودخــوراکوبرابرول ځکه چې دادخوشحالی په وخت کی وی نه دغم--- له دینه عـلاوه مروجه فاتحه نوروډیـرمفسجداتو لره مستـــلزمــه ده لکه په جــماعت کی منجلس کول نسوار کــول اونورحـــالانـکه چې مســـجدونه صــرف دذکــر لپاره دی علاوه پردی چې په مـروجـــه فاتــح کـی لاسونه پورته کول اودعا کول احسن الفتاوی بدعت بللی لهـــذاددی عمل پریښودل لازم دی دتعزیه اخیستـلوصحیح طریقه داده چـــی دې مـــرده وارث یاولی په خپل کورکی تعزیه واخلـی خوهلته هم بایـدڅه خـــاص انتـــظام نه وی خـــوراک څښاک بـرابرول صحیح نده اوداهـــــم ضـــروری نـــده چی وارث به بلکل نورهـرڅه پرېږدې اوددی لپاره به ناست وی بـل هیــڅ کاربه نکوی

تـــــــــــــــــــــــــــــــــکرار دتعزیه

سوال :-داخترپه ورځــوکی خلـــګ دی مړی دوارث کورته ورځې اوورتــــه تعزیه کوی ولوکه مخته هم تعزیه کړی وی ایاداعمل جائزده اوکه ناجائز -بینواتوجروا.

ځواب :- دوهم وارتعزیه کول مـکروه ده که ده عیدپه ورځوکی وی اوکـه په

نوروورځوکی البته دمسافریـادهغه چادپـــاره چـــی تعزیـــه یی نه وی کړی جائزده که څه هم ددی غائب دپاره چې فاتحه یی نده اخیستی ښه خبره داده چې دعیـــدپه ورځـــوکی ورته تعزیه ونـــه کړی بلـــکی دعیـــدمخکی اویا وروسته دی وکړی ځـــکه چی داده خوشحالی شپې اوورځی دی اوپه تعزیه سره تجدیددحزان راځې . ردالمحتارپه دې هکله داسی لیکې

واولهاافضــــــل ای بعد دفن وتـــــــکره بعدهالانها تجـــــدد الحزن الی لغـــــائب وتکره التعزیه ثانیا

له دفن (خښیدولو)دمړی نه بعــدفاتحه اخیستل بهتردی او له هغه وروسته مـکروه ده ځـــکه چی دادمړ ی واریثانوته غـم ورنــوی کـــوی البته که کوم غائـــب وی تعـــزیه یی نه وی کړی نوکولایي شـــــــی اودوهـم ځــــل تعـــــزیـــــه مــــکروه ده

په مړی پسې دخیراتوشرعې حیثیت

سوال :- دی ډیرومسلمانـــانورواج ده چې په خـــپل مرده پسـی په یوټاکلی وخت خیراتونه کوی لـــکه اول ،دریـم ،اووم اوکلـنۍ (تلنه)دشــریـعت لـــه نګاه ددی عمــــل څه حکم ده ؟

ځواب : دمړی دپاره دعااستغفار صدقه اوخیرات ورکـول لپاره دی ایصال ثواب جائزده البته ددغواعمالودپاره دی خاصـــوورځوټـــاکل صحیح ندی هوکه یوعاقل بالغ وارث له خپـله مالـــه دی غـــریـــبانـــودپاره څـه خوراک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابر وی بغیردتعین دوخت نه صحیح ده اوکوم چی تعـین دوخـت ده ددی جوازپه هیڅ یومذهب کی هم نه لیدلکیږی علامه ابن امیرالحاج المالـکی په خپل کتاب مدخل ج۳ص ۲۷۵ کــی دی عــمل تــه بدعــت ویلی امام ابن حجرمکی شافعی دی عمل ته بدعت مذمـومـه ویلی فتاوی کبری ج۲ص ۷ج۳ امام موفق الدین حنبلی دی عمل ته مکروه ویلی مــغنی ص ۴۱۳ اوداحنافو دعلماوو اقوال په دی مسئله کی په لندی ډول دی.

ردالمحتادی بزازيي په حواله لیکی

ویــکره اتخــاذالطعــام فی الیــوالاول والثـالث وبعدالاسبــوع ج۱ص ٦٦٤ او مکروه ده برابرول دی خوراک په اوله ورځ اوپــه دریــمه ورځ اوورستــه له اوومی نه علامه شامی په بل ځای کی لیــکی یکره الاجتــماع عــندصاحــب البیت بــل اذافرغوامن الدفن فلیتفرقوا � مــکروه ده جــمع کیدل په کوردمړی کی بلکی چی کله فــارغ شی له دفــن خښولودمړی نه نــوخواره واره دی شی اوپه خپــلوکارودی مشغول شی .

فتاوی عالمگیری لیکې

ولایباح اتخاذاطعام ثلاثه ایام کــــذافی التتارخانیه ج ۱ص۱۷٦ اوندی روابرابرول دی خوراک دری شــپی دمړی په کورکی همدارنګه په تاتارخاینه کی دی

حافظ ابن الهمام لیکې

ویکره اتخاذالضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شـــــــرع فی السرورلافی الشروروهی بدعــةٌ مستقبحة فتـــــح القدیر ج ۱ص ۴۷۳ مکروه ده تــیارول دی خوراک له کوره دی مړی نه ځــکه چی داپه خوشحالی کی وی نه په غـموکی اودایــوبــدعت قبـــــــــیحه ده

حضرت ملاعلی قاری (رح)لیکی

بل صح عن جریر(رض) کنانعده من الیناحة وهوالظاهــــــــــــرفی التحریم قال الغزالی (رح) ویکره الاکل منه قلت هذاالذلم یـکن من مال الیتـــــــــم والغائب والافهـــو حرم بلاخـــــــــلاف مرقــــــــــــات ج۱ص ۱۵۱ حضرت جـریر(رض)نه صحیح روایــت ده چې موږبه دا خوراک په ویورماتم کی شمــیرول امام قاری (رح)فرمایي چې داحدیث ظـــاهـره ده په حرام والـی ددی عمل کی امام غـــزالی(رح)فرمایی چی خوراک کول له دینه مــکروه دی مـــلاعـــــلی قـــاری وای کـراهة هلته ده چی په دی کښی دیتـــیم اوغائب مـــال نوی مصرف شوی اوکه دیتــیم او اوهغه څــوک چی مـوجـــودنـــه وی مال مصرف شوی وی بیاداعــمل اوؤرنـــه خــورک کول حرام دی

حضرت قاضی ثناءالله په خپل وصیت کی لیکی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعدمردن من رسوم دنیوی مثل دهم وبستم وششماهی وبـــــر سینی هیچ نه کنیدزیراکــــــــه رسول ﷺزیاده ازسه روزماتـــم جائزنداشته اندوحرام ساختــه اند مالابدمنه ص ١٦٠ زمـــــــــادمرگ نه وروســـــته دنـیوی رســمونه رواجـــونــه مــکوی لــکه لسـم، شلــم اوکلـــنی تلـنه هـــیځ مــکوی څــکه چی رســـول تردریو ورځــــــوزیات غم لمــانځل رواندی بللی بلکی حرام کړی یـی دی . له دینه ماسـوازمـوړمـروجـه خیراتونه په نـوروډیـــروقباحتومشـتمل دی هغه داچی دخیراتونه بلکل دخــداي ﷻ درضــااوثواب دپاره نــه وی بلکی درواج اوپښتنوالی په خاطروی ولــی که دغـه ولـــی یاوارث ته ووايي چې دغه روپۍ فلاني مسکین اویافلانۍ مدرســې ته پتې ورکړه په دې کـښې به ستاثواب زیات وی اوستامرده ته به يي زیاتــه فائده رسیږي نوهغه دې خبرې ته تیارنده کومه چی موږتجربه کړی ده اوبـل داچـــه که یوډیرغـریب وارث وی هم خودی به پخپل مرده پسې ضرورخیرات کوی دنوم اوپښــــتو په خاطرولوکه روپۍ په قرضه اویاپه سودورته اخـلې هم اوکـه خپل اهــل اوعیـال اولادپــه وچــه مــړی کښیــنوې هم اوبـل داچـــه په دی خیراتوکی اکـثر دخپلوانواودوستانواشنایانوحصه وی دی مسکینانوچنـدان لحــاظ نه پکښې کـیږي لهذاداعـمل دهغــه مثال مصداق ګرځي چي وايي- هندوستړی خداي ﷻ ناراضه ◆ بالاخیره په مونږ لازمـــه ده چی مسـلمانان پوه کړی اوپه دینې معاملاتوکی اومصارفو کی ورته شرعې طریقه وښېي اوخپله وجیبه اومسئولیـت له غاړې لرې کړو

دختم شرعی حیثیت

سوال :-بعضـــی خلــګ پـــه خپــل مړی پسې دایـصال ثــواب په نـیت اويا دمصیبتوددفع په خاطرختمونه کوی چې په دی کی دخوراک ترتیبـات هـم نیول شوی وی اوله مدرسوحافظان یـاطالبان راغواړی اوټول قران شـریف په ډیرلنډوخت کې ختمه وی دشرعت له له نظره داعمل څنګه ده ؟بینواتوجروا

ځواب :-په مروجه ختم قرانکریم دهنـدسندعلمـــاوومتفق دی چی مــکروه اوبدعت ده که څه هم بعضی کتابونـه جـوازورکوی لکه

حضرت مولاناعبدالحی (رح) لیکي

یکره ان قرواجهراًلاخلالـــــــــــه باستماع الــقران وهوفـــــــرض فی خزانة الروایات فــی التاتـار خانیــــــــه عن المحـــــــیط من المشائخ من قال ان ختـم الـقران بالجماعةجهرا ویسمی سپــاره خواندان بالفارسیه مکــــــــروه وفی القنیه عن شرح الســــــــــر خســی یکره للقوم ان یقرؤجملة لتضمنها ترک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاستمـــــــــاع والانصات بهما وعن فتـــــاوی ابی الفضل الکرمانی لابـــــاس به وفی النهایه من المشـــــائخ من قال قرأة الـــقران بالاجــزاء الثلاثیـــــــن مـکروهة لمافیــه من الخلــط وفی المـجبــــــــتی والعامة جــوزه بدعــة حــــــسنه نفع المــــــــــــــــــــــــــفتي والسائل ص۱۰۹ مکروه دی که یي په زوره واي ځـــکه چـی په اوریـــــدودی قرنکریم کی خلل راځی حـالــنکه اوریـدل دقـــران کریم فرض دی اوپه خزانـــة روایـات کی له تاتارخانیه نه نقل کـوی په حواله دی محیط چی بعـــضی مشـــائـــخوویلی چی تهول ختم دقران په زوره کـــول چی په فارسی کی ورته سپاره خــــواندان وایي مکروه دی اوقنیه کی لـــه شرح سر خسی نه دی چی مکروه دی د قـوم دپاره ویل دتهول قران ځکه چی پـه دی کی اوریدل اوپټه خوله کیدل نه لحاظ کیـــــږی اوپـــه فتـــاوی دابی الفـــضل کرمانی کی دی چی پـــروایي نشته په نهـــــــایــــــه کـــــښی دی چی بعـــضی مشائخوویلی چـــی د تهـــول قران ختم کـول مـــکروه دی اوپـــه مجـــتبی کی دی چـــی عـــامــوعلماووجوازورکړیاوبـدعــت حسنـــه یی ورتـه ویـــلی ده

دی پورته عباراتومطـلـب داشـــوچې دټول قران ختم کول مـکروه ده ځــکه چی هغه څو خـــرابـــیانـــولـــره متضمن ده اول داچــه پــه هــغه کی داستماع اوانصات لحاظ نه کیږی اوبل داچه پــه هغه کی دسجدی تلاوت لحاظ هم نه کیږی اوبل داچه په هغه کــــی هغه خلـــګ هم شرکت کـــوی چې دصحیح ویلودقران تـوان نه لری اوبل داچه دتیزي له وجه په هغـــــه کی ضرورغلطي راځي چي دابــه دثـــواب پرځای اوبـــال شـــې اوبل داچه دهـــــغوحافظانواو طالبانوپه نیت کي هـــم څه فـــرق وی چې هغه دخواراک اویاروپولالــــچ ده

لهذاکه بلکل دا اعتدال نه کارواخلودومره به ووايوچي صرف یوه ســپاره ختم کول اویونفرچی صحیح قران یی زده وي ووايي اونـورپټه خـوله ناست وي دابه جائزوی اوامیدده چي مـــرده تـــه یي ثواب ورسیـــږي اوپه دی کې دحافـظانـــو،طالـبــــــانورابللوته هم ضرورت نه پاته کـــیږی چې بیادهغوی نیتونه اصلاح شی بلکې صرف دکلې امام اوپه خپل کورکي داسې شخص پیداکیدای شی چې دایوه سپـــاره ختـــم وکـــړی اوپـــه دی کـــې پورتـــنی خرابیانی هم نشته والله اعلم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زيارتو متعلق مسائل

سوال :- غيرمقلـيدين زيارتونوته تلل شرک بولې ايـاداخبره صـحيح ده او کنه اوزيارتونو ته تلل ثـواب ده اوکه وبال ؟

ځواب :- چونکی دحضرت نبي ﷺدبعثت نه مخته جهل اوشرک اوقبرپرستي وه لهذا د مسلمانانودعقيدودی برابرولودپاره دحضرت نبی ﷺاول وارخلګ دزيارت کولونه منع کړل خوکله چی اسلام ترقې وکړه اومسلمان پوه شــول نوحضرت نبې دزيارت کولواجازت وکړاوويي فرمايل :کنت نهيتکم عــن زيارت القبورالافزورهاالخ مشکواة ۱۵۴ترجمه مامنع کړی واستي له زيارت کولــودقـــبروڅخه خبرداراوس زيارتونه کوی ځکه دا تاسوته له دنيانه بې رغبـــتی درکوی اواخيرت دريادوې لهذاددی حديث له رويه دزيارت کول جائزنه بلکی په ټول عمر کی يوارواجــب اويامستحب ده علی اختلاف بين العلمأ البته په زيـــارت کــولوکی دافراط وتفريط نــه بايد کارنه واخــستل شی بلکی په هغه طريقه زيارت وشي کــومه چی شريعــت ښودلې هــغه پــه لاندې ډول ده

دزيارت کولوشرعی طريقه

زموږپـه مذهب وسيله جائزه ده لهذازيارتونوته تګ کول اواولياً،شهدأ او صـــالحين په خپــلودعـــأووکی وسيله ګرزول صحيح ده نو چې کله مقبرى (هديرى)ته ورغلي سلام به ورواچوي په دى شان (سلام عليــکم دارقـــوم مؤمنين انتم لناسلف ونحـــن لکه تبع وانا انشاءالله بــکم لاحقون نسئل الله لناولکم العافيه)له دينه وروسته به سورة اخـــلاص (۷) ځله ووايي اويات

الکرســـی اويــايــاســـين شـــريف اوثــواب به يي مرده ته اوتولې مقبرى تــه وبخښی وروسته به دعاورته وکړی دی مغفرت اودی ځان په هکله پــه دی شکل دعا کولای شي چـی يـاالله ستـاددی صـالح اونيـک بنده په وسـيله زمـــادغـــه دعاقبـــوله کړه اوزمـا مرادپـــوره کړه دی اوليأووپه مزارو به پـه دعـــاووکی لاس نه پورته کوی اوهمدارنګه په دعاکی به دانه وايي چی په حــق دفلانـــی دی وه کــه څـــه هم بعــضی صوفيه حضــرات ددی قول دجـواز قائــل دی خونـــورډيرعلماداعمل مکوره بولې لکه هدايه په باب الکراهة کی ليکی ويـــکره ان يقول فـی دعــائه بحق فلان اوبحق انبيائک ورسلک لانه لاحــق للمخلوق علی الخالق هدايه بـاب الکراهة ص۱۷۵هکذافی العالمګيريه ج ۵ص ۳۱۸ هکذافی سراجيه ص ۷۲هـــــکذافی فتح القديروايضاًرحـــجان شـــامـــی الی الکراهة او هـــديرى ته حکمت داده چی کله ورشی بايدعبرت حاصــل کړی مرګ ورياد کړی اوله دنيانه بی رغبتی اختيارکړی

دښځوزيارتونوته تلل دشرعت له نظره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال :-دی ښـــځوزیارتونه ته تلل جائزدی اوکنه اودحضرت عایشې (رض) دی خپل ورور عبدالرحمن زیارت کول په جـوازدلیـــل ګرزول صـحیح دی اوکه نه ؟

ځواب :-دی ښـــځوزیـــارتونوته په تللودحضرت عایشی (رض) دخپل ورور عبدالرحمن دلیل ګرزول صحـــــیح نـــدی ځکه چی په هغه وخت کی دښځو جماعتونوتـه تـلل جائزوومـــګر اوس عـــصرکی دښځوجماعتونوته تـــلل نـــاجـــائـــزدی اوپه خپله دحـــضرت عایـــشی (رض) له دی قول نه لوشهدتک مارزتک نه معلومیږی چی اجازت نشــــته له دینه عـــلاوه بـعضی عـلماهم

فرمايي چی اجازت نشته دهغــه حـدیث له مخی چی حضرت نبی ﷺفرمــايي

لعن الله زورات القبوریعـــنی لعـــنت کـړی الله تـــعالی ﷻ په هـــغوښځوچی دقـــبرونوزیارتونه کـوی که څـــه هـــم بعضی نورعلماجوازورکوی اووايي چی داحدیث تراجازت مخته ووبیـــامنسوخ شـــو خـــو په دی شرط اجـــازت ورکوی چی له فتنی نه بــه په امن وی چونـــکی نن زمان دښـــځولـــه کـــور نه وتل اوزیازتونوکول له فتنی نه په امن نه دی لهـــذاډیـــــرعلماپه دی متفیق دی چـــی ښـــځو لره اجازت نشته دی فقهاوواقوال په دی مســـــئله کـــی په لانـــدی ډول دی فـتح الباری لیکی فقیل دخلن فـی عموم لاذن وهـوقـول الاکـثرومـحـلـه اذاامـــــنت الفتنة - فتح الباری شرح بخاری ج ۳ص ۱۴۸ اوهمدارنګه حضرت امام نووی (رح) لیکی

وهل تکره للنسأوجهــــــان قـــطع الاکثـــــــــــــــــرون با لکراهة ومنهم مـــــــــــــن قال لایکره ادااامنت الفتـنه حاشیــه مشـــــکوة ص ۱۵۴ ایاښـځولـره زیـارت کول مکروه دی په کښی دوه مــذهـبه دی داکـثروعلماو و فیصـــله ده چــــی مـکروه دی اوبعـــضی علماوايي چی نــــدی مـکروه که چیری له فتــنې نه پـــه امـــن وی

علامه شامې (رح) په دی هکله داسی لیکې

وقال خیرالرملی ان کـــان ذالک لتجدیدالحذن ولبـکأوالـــندب علی ماجرت عادتهـــــــن فــــلا تجوز وان کان للاعتباروالـــتر حم من غـــیربـــــکأوالتـــــــبرک بزیارت القبـــــــور الصـــالحین فلابأس اذاکن عجـــائز ویکره اذاکـــــــــن شواب کــــــــحضور الجـماعــــــــــت فـــــــــــــــــــــی المســــــاجد وهوتوفیق حسن ردمحتار ج ۱ص ۱٦۵ خیررملی ویـلی چی کـــــه چیری زیارت کول دغم تازه کولواوژړااافسوس لپاره وی کوم چی دښځوعادت ده بیاجائــــــز نده اوکه لپاره دعبرت اوتبـرک اوترحم حاصلولو په قـــبرودنیـــــکانووی بی له ژړابیاجائـــــزده خوکــه زړی ښـــځی وی اودځوانوښـــځولپاه ر زیـــــارت کـــــــول مـــکروه دی لـــــکه حـــــاضریدل ددوی مسجدوته لپاره دجمعې علامه شامی فرمايي داښه فیصله اومتابقـــــت ده پــه مابین دمذهبینوکې البته په اوسنی عصرکی دنه جوازمـذهـب راجـح ښـــکاری لکه دی پـــاک او هنددعلماوو فیصله هم په اوس زمانه کـــــی پـــه عـــــدم جواز ده لکه حضرت قاضی ثنأالله پانی پتـــی لیـــکی زیــــارت قبـــورمـــردان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجائزاست نه زنان مالابدمنه ص ۸۷ یعنـــی ســـړولــره زیــارت کــول جائــزدی نـــه ښـــځولـــره اوهمدارنـــگه عمدة القاری شرح بخاری دیواوړدبحث نه وروسته لـیکې

وحاصل الکلام ان زیارت القبورمـــکروهة للنسأبل حـــرام فی هذاه الزمان ولاسیـماًنـــساءمصـــرلان خروجـــهن عـــلی وجـــه فـــیه الفـــسادو الـــفتنه عمدةالقاری ج ۸ ص ۱۰۱ خلاصه دبحث داشوه چی نن زمان زیارتوته دتللو اجازت صرف زړوښځولره شته خوپه دی شرط چی خلاف شـرع اعـــمال به هلته نکوی لکه ژړاکول طواف کول (یعنی تـرزیازت راگرځیـــدل ) خاوری خوړل میخونه ټکوهل زانگووی اچول وغیـــره اوکه داخـــلاف شرع اعمال کوی بیا زړوښځولره هم اجـــازت نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زيارتونو ته د خرڅې لګولو حکم

سوال :-لرى زيارتوته سفـرکـول اوڅـه خـــرڅه لګول څنـــګه دى کوم چى بعضى علمايي صحح نه بولې اوپه دليـل کى داحديـث راوړى

لاتشدالر حال الاالى ثلاثة مساجدالخ مطلب داچه صرف دريومســـجدوته سفررواده مسجدحرام مسجدنبوى اومسجداقصى

ځواب :-اکثرعلمأئکه ماجوزى(رح)امام حرمين (رح)امامنـــووى (رح)امـــام غزالى (رح) زيارتوته سفرکول جائـزبولې اودازمـــوږمـــذهب هم ده اوذکر شوى حديث په هـکله ليکې چى دادمسجدوپه باره کى ده ځـــکه چى دغـه درى مســـجدونه ترنورومســـجدونونه زيات ثواب اودرجه لرى اوله ديـنه ماسواءنورمسجدونه په درجه کى سره برابردى اوپـه هرځاى کى جمـاعت مـــوجـــودوى لـــهذايو جماعت پريښودل اوبل ته ســفرکول بې فايـدى دى اوکوم چى زيارتونه دى دهغوى په کولوامرشوى اودهغوى برکات هم يوله بل سره فرق لرى لهذا هغوتـه سفرکول بې فايدى ندى نوزيارتوته سفرکـول جائـزدى الفجر الصادق ص ٦٦ردمحتارج ١ ص٦٦٥

پـــه زيـــارتـــودجنـــډودرولـــوحـــکم

سوال :-په زيارتوجنډې درول څنګه دى کوم چى بعـــضى خلګ ددى عمل دجوازدپاره دحضرت نـــبى ﷺ هغـه عـــمل اصل بولې چى يـــوه شنه لښته يى راواخيســـته اوپه نيـــمه يي ماتـــه کړه اوپه هغودوقبروچى په عـذاب کى مبتـــلاوونيمه ،نيمه ودروله اوويي فـرمايل چى ترڅوداوچې شوى نه وى ترهغه به غذاب ځنـى پورته وى ايـــاداحـــديث دمـروجه جنډود جوازدليل ګرزيدلاى شى اوکه نه ؟

ځواب :-زموږمروجه جـنډې تردى حديث لاندى کول اوجائزبلل ډيرمشکل اودانصاف نه لرى خبــــره ده دڅووجونه اول داچه دحضرت نبى ﷺ دغه عــمل بعضى علمأوودانحضرت ﷺ خصوصيت بللى ده دوهم داچه داجنډې عوام په دې نيــت نه پرى دروى چـــى حضــرت نبى ﷺ چيرى داسى عمل کړى بلکى صرف ديـورواج په خـــاطـــروى دريـم داچې په دى مـروجه جنـــډوډيرزيات قيمتې دسمـــالونه وى اوبعضى جـــنډى مـــکملې پـــوښ شـــوى وى چـــى داصرف اضـــاعت دى مـــال ده اوبيـــځايه مـصرف ده حـالـــنکه ضايع کـول دمال حرام دى څلورم داچه په قرونوثـــلاثـه ووکـــى ددى عمل هـــيڅ اثـرنه ليدل کيږى باوجودددى چى دالرګى اودسمالونه هلته هم موجودوولهذادا عمـــل بـــدعت ده مفـــتى رشيـــداحمد (رح) هم په خپل کتاب حسن الفتاوى

ج ١ ص ٣٧۴ کى ددى عمل په بدعت والى تصـريح کړى

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زيارتودګنبدوجوړولواوكټارى لګولوحكم

سوال :- بعـضى خلـګ قبـــرونه پـخـوى اوځـنى ګــــنبدى پـرى جـــوړوى اوځوک كټارى پرى لګوى دشريعت له نظره ددى عمل حكم څه ده ؟

ځواب :-دنبى ﷺ دصحح احاديثونه داامرثابت ده چى دقبروتوهـــين مــكوئ يعنى په قبرونو كښيناستل هغه پيمالول اودقبروخواته جواب چـــاي كول وغـــيره قبرونه دمسلمانانويوه برزخـى رهـايشـــګاه ده دهـــغواحـــترام كول ضرورى دى خـوپه داسى طـريقه چى دشريعت نـــه ثابت وى په قبروګنبدى جوړول اودقبرونوپخول اوكټارى وغيره پرى لګول داسى اعمال د شريعت نه ثابت ندى لهذادغه اعمال دقبرونوپه احترام كى داخل ندى په شــريعت كى دغه اعمال منـــع ښودل شــــوى دى دحضـــرت جابر(رض)روايت ده نهى رسول الله ﷺ ان يجصص القـــبروان يبنى عليه وان يقـعدعليه مسلم ج۱ ص ۳۱۲ منع فرمايـــلـى ده رسول الله ﷺ له پـــخولودقبـــرواولـــه ګنبدى جـــوړولوپـه قبروبـــاندى اوله كښيناستلوپه قبروباندى

حضرت امام نووى (رح)دذكر شوى حديث په شرح كى ليكى

والبناءعليه ان كــــــــــان فى ملک البانى فمــــــــكروه وان كان فى مقبره مسبله فحرام نص علـــــــــيه الشافعى (رح) والاصحاب قال الشـــــافعى فـــــــــــى الام ورأيـــــــــــت الائمه بــــمـــكه يــــامـــــرون بهدم مايبنى ويوايدالهــــدم قوله ولاقبر أمشــــــــــــــرفا الاسويته شرح مسلم ج ۱ ص۳۱۲ په قبرباندى عمـــارت جـــوړول كه هـــغه ځاى دجـوړونكى په خپل ملک كى وى نومكروه دى اوكه پـــه عامــه هديره كې وى بياحرام دى امام شافـعى (رح)اودهغه اصحابوپـدى خبره تصـريـح كړى امــــام شافعى په كتاب الام كــــى ويلى چى مــا ليدل امامان پـه مكه مـكرمه كى چى پــه قبرود جوړوشـويوعمارتوپه ړنګولويى حكم كاوه اوولاقبراًمشـــرفاً الاسويـــته حديث ددى خبرى تائدكوى

علامه شـامى (رح)ليكى

ًواماالبناءفلم ارمن اختار جوازه ردالمحتارج ۱ ص٦٦٢ كوم چى جوړول دعمارت اوبادى دى په قبر باندى زه ګمان نكوم چى چـادى جوازوركړى وى

علامه سراج الـــدين الحنفى ليكې

ويكره البناعلى القبورسراجيه ص ۲۴ مكروه ده جوړول دابادى په قبـرباندى

حافظ ابن الهمام ليكې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان النبی ﷺ نهی عن تربیع القبوروتجصیصها فتح القدیرج۴ ص ۴۷۲ منع فرمایلی ده نبی ﷺله ځلور کونجه جوړولودقبرونه اوله پخــــولودقبرونه حضرت ملا علی قاری (رح)لیکی په قبـــــروچی هرڅه جوړشوی وی ړنګول یي واجب دی اګـــرکـه مسجدوی هم مرقات ج۲ ص۳۷۲ حضرت امام محمد(رح) فرمايي چی په قبر باندی دخپــــلوخـاورنــه مـــاسواءهیڅ شی اضافه کول صحح ندی لکه چی هغه لیکی ولانری ان یزادعلی ماخـــرج منه ونـــکره ان یطـــــین اوان یجصص ان النبی نهـــی عـن تربیع القـــبوروتجصیصـــها قال محـــــــــــمد(رح) به نأخذ وهوقول ابیحنیفه (رح)کتاب الاثارللامام مـحمد ص۹۷-۹٦ موږصحح نه بولوچی زیادت دی وشی په قبر بانـدی ترهغـــوخاوروچی دقـــبرنه راوتلی وی اوموږ مکروه بولوګــــــــلول دقبرواوپخول دقبرو څکه چی نبـی ﷺ منع فرمایلی له ځلورکونجه جـــوړولودقبرو اوپخلودقبرواوهمدغـه زموږ مـذهب ده اوهمداامـام ابو حنیـــفه(رح) قــــول ده

دذکرشویوعباراتوخلاصه دشوه چی په قبرباندی دخپلوخاوروپرته نورڅه زیادت کول ناجائزدی کـه هغه ګنـبدی وی اوکـه کټاری وی اوکـه دهـغه پخول وی اوداســی نـورلــه دینـه عـــلاوه دمـذهب ټـــولــوکتـــابولــکه قاضی خان ج۱ ص۹۲ عالمــګیری ج۱ص۱۷٦ وغـــیره ددی اعـــمالوپه نه جـــواز تصریح کړی بلکی امام احمد(رح)اوامام شـــــافعی (رح) هم ددی اعـمالو په نه جوازقائل دی لهذا ګنبدی جوړول اوکـــــټارئ لــګول وغیره په زیـــارتو بانـــدی مـــکـــروه تحریـمی دی څـــکه مـــکروه چی مطـــلق ذکرشی دامـــام ابـــوحنـیفه اونوروسلـــفو صالحینوپه نزدورنه مکروه تـــحریمی مـــراددی لکه عـــلامه ابوالمکارم (رح)لیکی المـــــکروه التـــحریم عنــــدالامام یعنـی دمـــکروه نـه مراد په نزددامام ابوحنیفه (رح) حرام دی هــمدارنـــګه تصریح حاشیه تلویح ص۲۷ لـــه امــــام ابوحنیفه اوامام محـمددواړونه نقل کړی چی دمـکروه نه کراهة تـــحریمه مرادده

په زیارتودچراغولګولوحکم

سوال :-ځنې خلګ دجمعی په شپه په بعضی زیارتونوچراغونه لګوی ددی عمل حکم په شریعت محمدی ﷺ کی څنـــګه دی

ځواب داعــمل بدعت ده او شریعت ددغه عمل نه مــنع فرمـــایـــلی ده حضـــرت عبدالله ابن عباس (رض) روایت کوی لعن رســوالله ﷺ زائرات القــبور والمتخذین علیـها المـــساجد والسرج مشکوة ص ۷۱ یعنی لعنت کړی حضرت نبیﷺ په زیارت کونکوښځو باندی اوپه قبرودجمـــاعت جـــوړونـــکوبـــانـدی اودچراغولګونکوباندی ظاهرخبره ده چی حضرت نبی کریم ﷺ په کوم عمـــل لعنـــت فرمـایلی وی هغه هیڅ وخت جائــــز نشی ګرځیدلای ملاعلی قاری (رح)ددی حدیـــث په شرح کی لیکی چی دابیځایه مصرف ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوضايع كول دمال حرام دی اوبـــل داچه داله اثارودجهنم نه ده گوياكې ددی قبرتعلق له اوره سره ده اوجهـــــــنمی ده

علامه سيدمحمودالوسی الحنيفی (رح) ليکی

وتجب ازالـــة كل قنديـــل اوســـراج عـــلی قـــبرولايـــجوزوقـــفه ونـــــــذره روح المعانی ج۵ ص ۲۱۹ واجب ده لری كول دهرقنديل اوچراغ چی په قبرباندی وی نه يی وقف صحح ده اونه يي نـــذر فتاوی علمگيری ليکې واخرج الشموع الی راس القبورفی الليالی الاول بدعة ج۵ ص۲۱۹ لگـــول دی شـــمعودی قـــبروســـــــروتـــه پـــه اولــــوورځـــــوکی بـــدعـــت ده

حضرت قاضی ثناءالله(رح)ليکې

وانچه برقبوراولياءعمارتهارفيع بناميكنندوچـــراغان روشن كننـــدوازين هرچه ميـكنند حرام است � داچې په قبرونودی اولياووگنبدی جوړوی اوياچراغونه پری لـــگوی اوددی نه علاوه هرڅه چی زيادت كوی حرام دی همدارنگه داعمل دشوافعواومولكوپه نزد هم مكروه اوحرام ده حضـــرت امام نووی په شرح مسلم ج ۱ ص ۷٦ کـــــی تصريح پری کړی لهـذا قبـروته شمعی اويـــاچـــراغـــونه لگول يوناجـائـــــــزاوبدعت عـــمل ده الله تـعالیﷻ دی پـــه مسلمانانودجهــالت تياری رڼاکړی اورب دی په موږدبدعاتوتوری تياری صباح کړی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قبرونودپردواوپوښونواچول

سوال :- په قبرونوپردی اوپوښونواچول څه حــکم لری حالنـــکه په ډيـــرو پوښوډيرقــرانی ســورتونه ليکلی وی ايادابه دقران شريف بی ادبې نه وی

ځواب :-په قبرونوپردی پوښونه اچول بدعت اوحرام دی مخته دامسئله په تفصيل سره ذکرشوه چی په قبروله خپلوخـــاورونه ماســواء نورڅه زيادت کول جائزندی اوسره له دی چی دااضـــاعت دی مـــال ده دادقبراحترام نده بياخاصـــکرهـــغه پوښـــونـــه چی په هغوباندی قرانی اياتونه نويشته وی ددای پوښواچولـوپه قبرولالويـه گـــناه ده چی په دی کښـــی دی قران بی قدری ده اودقران بی قدری سبب دهلاکت ده . يوعالم شهيدجمعه محمدپه خوب ليدلی ووچی په خوب کی ورته وايي چی زماترپښوقران پـــروت دی دادرلری کړه هغه فرمايي چی زه کله دده قبرته ورغلم دده ترپښوقران نه ووالبته په ده يوپوښ پروت ووچی څلورطرفه پکښی قرانی اياتونه سورة اخلاص او ايات الـــکرســـی ليـــکلی وه نوماوويـــل چی بس همدغه قران ده � فقهاووددی عمـل پـــه حـــرامـــوالی تصريح کړی لکه چی علامه شامی (رح)ليکي وفی الاحکام عن الحـــجته تکره الستورعلی القبورج١ص ٦٦٢په احکام کښی دی له حجت نه چی مکروه دی پردی اچول په قبروباندی دحضرت مولاناعبدالـحی صاحب نـــه سوال وشو قدتعارف فی بـــلادناانهـــم يلقـون علی قـــبورالصلحاء ثوبامـــکتو بافيه ســـــــــورة الاخلاص هل فيه بأس قـــال هواستهـــــانه بالقران ويصر مستعملا متبذلاوابتـــذال کتاب الله من اسباب عـذاب الله کذافی نصاب الانصـاب نفع المفتی والسائل زمــونـــږ په ښاروکی عـــادت ده چی په قبرونود اولـيأووباندی پوښونــه اچوی چی په هغه سورت اخلاص هــم نويشــته وی اياددی پرواشته اوکه نه ؟ په ځـواب کـــی ليـــکي دادي قران اهانــت ده اودا مستعـمل گرځی او ضايع کيږی اوضايع کـــول دقران سبـــــــب دی عـــــــذاب دی الله تـعالی ﷻ ده همدارنـگه په نصاب الانـصاب کی هم دی له دينه علاوه پردی په قبروباندی اچول اضاعت دمال ده اواضاعت دمال حرام ده اوپه دی خبره کی دهيچااختلاف نشته والله اعلم

په قبـــرونـــوبانـــدب دطـــواف حـــکم

سوال :-بعضی خلگ قبرونوته ورځی اوطواف پری کوی (پـری راگرزی)په شـريعت کی ددی عمل څه حکم ده ؟

ځواب په قبرونوطواف کول ډيرسخت نارواعمل ده طواف دکعبی شـريفی نه ماسوء بل هيڅ ځای ثابت نده اوداپه حقيقت کی ديهودونصراي ووعمل دی حضرت نبی ﷺ په دی هـــکله داســـی فرمايي لعن الله اليهودو النصاری اتخذواقبورانبيائهم مساجد مشــکوة ص٦٩ لعنت کړی الله تعالی ﷻ په يهودو اونصاری ووچی دپيغمبرانولـــه قبروڅخه يي مسجدونه جوړکړی يــهودو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونصاری وودقبروسره ډېرزياتي کاوه هغه ته يي سجدی لګولی اوپه هـغه به يـــي طوافونه کول چی ددوی په هکله حضرت پيغمبر ﷺ پورتنی حـديث ذکرکړخوبدبختانــه چی نـــن دکفارومشرکانوډېرعادتونه مسلمانوخپـــل کړی دی اوکه څوک ورته وايي چی داخلاف دشريــعت ده نوورته وايي چی موږته تراوسه چاندی ويلی چی دی زيارتومتعلق دااعــمال ناجائزدی نوته نه يي مګروهابی يي چی داجهل مرکب ده . حضرت قاضی ثناءالله حنيفی ددی عمل په هکله داسی ليکی ولايجوزمايفعـــــــله الجهال بقـبورالاوليـاوالشـــهداء من السجودو الـــــــطواف حولها واتخاذالـــسرج والمـــــساجد اليهاومن الاجتـــــماع بعـــد الحول کالاعـــيادويســـمون عرساً تفسيرمظهرج۲ ص٦٥هــکذفی ارشادالطالبين ص ۸۱ومالابدمنه ص۸۸ ندې جائزهغه فعلونه چی جاهـــلان يي کـوی په قـــبرو داولـــياوواو شـــهداوو باندی چی هغه سجده کـــول دی اودی هغـه اردګرددطـواف کـول او چراغونه لګول ا ومسجدونه جوړول اوهـــرکال بعدهلته دميلودپاره جمع کـــيدل چی عرس يي بولې داهــرڅـه نـاجـــائزدی

قبروته دزانګواچول اوميخونه ټک وهلوحکم

سوال :-ډېری ښځی دی اوليـأووشهـــيدانــوقبـــرونوته ورځې اوهـــلته ورته زانګوی اچوی په دی نيت چی زمابـــچی پيـداشی اوياميخونه ټـکوهی په دی نيت چی زمامرادحـاصل شی داعمل ترکومه حده نــاجائــزده ؟

ځواب :-داهغه جـــاهلانه اومشـــرکانه اعمال دی چی حضرت نبیﷺ په داسی ناوړه اعمالو ويريدواومسلمانان يي په ابتدا داسلام کی له زيارت کولونه منع کړل خوبدبختانه چی دغـــه دجاهلانواعـــمال په څورلسم صدی کی مسلمانانوتکرارکړل دټولوحـاجاتوپوره کونکی په حـــقيقت کی الله تعالی ده لکه حضرت قاضی ثناءالله ليکی مددخواستن ازغيرخداجائزنيست � له الله تعالی ﷻ نه ماسواء دبل چانه مددغوښتل جائـــزندی خاصکرپه تکو ينی امورکی له الله تعالی ﷻ نه پرته بل څوک تبدلی نشـی کولای بـــالاخره که چيری ددغه عمـــل کوونکی خپل مــــرادونه له مړونه پورته کول غواړی اوهغه په دی کی موثرحقيقی بولی لکه چی ددوی له دی قول نه معلوميږی � درمی وروغنم زيارت ته راکړه سره زمن زيارته-نوبـــيا شرک ده ځکه چی مړی دهيڅ خيراوشر مالکان نـــدی اوکه مـــړی پـــه خپلومراد ونو پوره کولو کی موثرنه بولې نوبياشرک نـده البـــته له ګناه نه خـــالی نده ځکه چی شائبه دی شرک پکښی شته ځکه خوعلمألــــيکې چی دی اولياوو قبروته په دعا کی لاس پوره کـــول صحح نـــدی چی شائبه ددی پيداکيږی چی ګويا کی له مړی نه څه غواړی له دينـــه علاوه خلاصـــة الفقـــه والعـــــقايدهم ص۵۷ دی اعمالوته شرک ويلی که څه هم دغه اعمال دجـهل له وجی نه لـــه دی خلـــګو څخه صادريږی خوداکثروعلمأوپه نزدبـاندی جهـــل عـذرنده لکه چی شرح عقايدپه دی خبره تصريح کړی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قبرونو د خاورو یا خوړدو خوړلو حکم

سوال :-ډیری ښځې اوځنی سړی دقبروخاوری چې دوی یـــي خوړدې بولې خوری اوکور ته یي هم راوړی چې هلته يي دکورنوروکړې هم استعمـالوی ایاداعمل جائزده اوکه نه ؟

ځواب :- خاوره په خپله پاکه ده البته خوړل يي حرام دي مطلقاًکه دقبـــروي اوکه دغيرقبر په حـديــث شريف کښې ددی عمل سخت ممانعت راغلی له حضرت ابوهریره (رض) مرفوع حديث ده � مـن اكل الطين فكانمااعاناعلی قتل نفسه طبرانی ج٦ ص ٣١١ ترجمه چاچی خاوره یاخټه ؤخوړله گویاکی هغه کومک وکړپه وژلوله خپل ځان سره

فتاوی علمگیری لیکی

الطين الذى يحمل من مـكه ويسمى طين هـمزه هـــــــــل الكراهة فيه كا لـكراهة فـــى طين الذى وردالـحديـــــــث فيه قال الـــــــــــــــكراهة فی الجميع متـــحـــدكــــــذافی جوهـــر الفتـــــاوی ج ٥ص ٣٤١ باب الكراهة هـــغه خـــاوره چی دمـــکی مکرمی نـــــه رااخســـتل کيږی اوخاوره دحمزه (رض) يي بولـــې ايـــاکـــراهة پکښی شته لکه کراهة په هغــه خـــاوره کی چی حدیث شریف پکښـــی راغـــلی په ځـــواب کی لیـــکی چی کراهة پوټولکی یوشی ده په جوهـــرالفـــتاوی کـــی هـــم ذکـــردی همدارنګه مخته مونـــږذکرکړوچــــی مـــکروه مطلقاًذکـــرشی مـــرادورنه دامام صاحب و غيره په نزدمکروه تحريمي دی لهذاخوړل دخاوری یاخوړدو حرام دی

قبروته دنذرمنلوحکم

سوال :-ځینی خلگ قبروته نذرونه مني په دی طریقه چی که زمـافلانی کار وشونوزه به دفلانی بزرگ یاشهیدپه قبرپســـه حلالوم اویابـــه پوښ پـــري اچـــوم وغیره په شریعت نبوی ﷺ کښی ددی عمل حکم څه ده ؟

ځوب : په دغه مسئله کښی څه تفصیل ده چی تشریح یي پـــه لاندی ډول ده داحنافومشهورکتاب درمختارلیکي

واعلم ان النذرالــــــذی یقـــع للامـــوات مـــن اکثـــرالعـوام ومـایــــؤخـــذمـــن الـــدراهم والشــــــمع والزيت ونـــحو همـــــاالی ضـــرائح الاولیـــأالـــکرام تقربـــاًالیـــهم فـهو بالاجماع بـــاطل وحرام مـالم يقصدواصرفهاالفقراء الانـام وقدابتــــلي النـــاس بذالک لا سيمافی هذه الاعصاروقـد بسطه العلامه قاسم فی شرح درالبحاردرمختارقبیل باب اعتکاف پوشه چـــی اکثـــرعـــوام دمړوپه نـــامو نذرونه منی اوداولیأووقبروته شمعی روپۍ اوتیـــل اوداســـی نورنـــذرونـــه راوړی هغوی ته دنزدیکت لپاره داټول په اتفاق دعلمــأووسره بـــاطل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوحرام دی ترخــوچــی یــي قصـدنــه وی کړی صرفول ددی نذروفقیرانوتــه اوخلګ په دی عمــل کــښی پـــه کثـــرت ســـره مبتلادی خاصکرددغی زمـانی خلګ اودغه مسئله علامه قـاسم په شـــرح د در البحارکی په نفصیل سره بیان کړی

علامه شامی دنذردحراموالی په بارکی څووجی بیان کړی دی اول داچــه دانذردمخلوق دپاره دی اونذردمخلوق دپاره منل جائزندی دوهــــم داچــه دچادپاره نذرمنل کیږی هغه مړی ده اومړی دهیڅ یوشی مالکان ندی دریم داچه دنذرمنونکی خیال داوی چی له الله تعالی ﷻ نه پرته مړی هم پــه تکو ینی امورکښی تصرف کولای شی حالنکه داعقیده کفرده ردمحتارج۲ ص۳۳۹ مطلب داچه نذردی الله تعالی ﷻ نه پرته بل چاته منل حرام دی که هـرڅه وی دوهم داچی که چاداسی نذرومانه نوپوره کول یي روانــدی که پـــوره کړی سرته ورسوی نوپوره کونکی یي کنهګارده فتاوی عـــــلمګیری ج۱ص۲۰۸ بحـــرالرائـــق اوداســـی نـــوروپـــه دی تـــصریح کـــړی چی که چادی معصیت نذرومانه نوپوره کول یي ضروری ندی لهذاله الله تعالی ﷻ نه پرته نذرمنل یوه ګناه ده اوپوره کول یي بله ګناه ده نوکه یوه ګناه شوې وی دبلـی نه ځـان وساته دریم که چاداسی نذرومانه اوپــوره یـــي هـــم کړنودادغیـــرالله ﷻ پـــه نامووده او حرام ده خوراک یااستعمالول یي جائـــزندی نـــوکه کوم ځناوردی قبردپاره نذرشی اوحـــلال شی ولوکه دی حـــــلالیدو پروخت بسم الله پـــری ویل شوی هم وی داحرام ده اوخـــوراک یـــي جائـــزنـــده

امام ربانی مجدد الف ثانی لیکی

حیوانات راازمشـائخ می کـــنـــد وبرسرقبرهـای ایشـــــان رفته ان حیوانات راذبح مـــی نمـــــائیددر روایات فقهـیـه ایـــن امرانیــــز دا خل شرک ساخته انـدودر ایـــن مبالغه نموده واین ذبح راازجنس ذبائح جن ساخته اندکه ممـــنوع شرعـی است داخل دائره شـــــرک مکتوبات امام ربانی دفتـــرسوم کوم ځناورچـی دبزرګانوپه نامود هغوقبــروته بوتـل کیــږی اوهلته حلالیږی دی فقهی روایـــــاتوله مخی داعمل شرک ده اولـــه دینه دبچ کــــــیدوډیـــرتاکیدراغـــلی اوداپـه هغوحلالولوکـــی شمیرل کـــیږی کوم چی دپیریانوپه نامو حلالیـــږی داعمـــل منع ده اوپـه شــــرک کی داخـــــل ده څلورم که چانذردی الله تعالیﷻ دپـــاره کـــړی وی اومـــړی ته صرف ایصال ثواب مطلب وی اویایي زیارت ته په بووتـــلوکی دزیارت ملنګانوته فائده رسول مطلب وی نوداقســـم نــــذرحرام نــــده خوبدبختانه چی عـــوام ددغـــه صورت اودمختنی جلاولی نشی سره کولای لهذاله دینه هم پرهـیزپکارده حضرت امـام ربانی له مختنی عباراتووروسته لیکی

وازین عمل نیزاجتناب بــــــاید نمودکه شائبــــــــه شـــرک دارد وجوه نذربسیار است چه درکار است که نذرذبح حیوانی کـــنـد وارتکاب ذبح ان نمائندوبذبح جن ملحق سازندوتشبه بعـــبده جن پیداکنندمکتوب ۱۴دفترســـوم له دینه هـــم پرهیـزکول پـکاردی ځـکه چی شائبـــه دی شـــرک پـــکښی شته دی نـــذر ډیری

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجـی دی څه ضروری ده چی کـــــــــــــــوم حیـــــوان حـــلالـــوی اوپـــه حلالـــیدوسره یي دپیریانوپه نامه حلال شوی سره پیوسته کوی اودی پیـریانود عبـــادت کونکـــی ســـره مـشابهت کوی

پنځم که چاداسی نذرومانه چی که زمافلانی کاروشونوزه به داالله تعالیﷻ په نامودومره روپۍ یاغنم دروحانی بابامینجورته ورکوم اوثـــواب به یي روحانې باباته بخښم دانــــــذرهم صحح ده البته که چیری ددی شخص هغه مطلوب کاروشونوضروری نده چی نذرشوی شی به ضروردروحـــانی بـابا مینجورته ورکوی بلکی هرچیرته چی یي فقیرانو او غریبانوته ورکړی دده نذرپوره شواوثواب یي روحانی باباته رسیږی اوکه هغومینجور ته ورکول ضروری بولې نومعلومیږی چی په زړه کی یي اخلاص نشته دی الله تعـالی د پاره شیږم دی نذرپه باره کی اهم ترین مسئله چی په دی باب کی فیـصله کن ده هغه داچه دکــــوم کارپه کولواونه کولوکی دنذرمنلوهیڅ دخل نشته اونه نذردالله تـعالی ﷻ قضأاو تقدیـربدلولای شی ځکــه چی حضرت نبی ﷺ فرمايي

لاتنذروافان النذرلایغنی من القدرشیأًوانمـــــــــــا یستخرج من مال البـخل مشکوة ص ۲۹۷ تاسونذرونه مه منـــئ ځکه نذردی اللهﷻ تقــــدیرهیـــــڅ نشي بـــــدلـــولای اونـــذر دبخیلانولــــه مــــــاله ووځــــی چی پـــه شرط صدقه ورکـوی شیخ عبدالحق محمدث دهلوی ددی حدیث په شرحه کی لیکې چی نذردی تقدیرخبری ته ټال ورکوی ځکه مـــنع ده اودادی بخـیل مخـــلوق کارده چی دانذرچی یوقسم صدقه ده په شرط یي ورکوی لهذابغیردی شرط نه صدقه ورکول پکارده خوکه نذرمنی باید ډیرپه مخلصانه طریقه وی.

حاشیه مشکوة فی ذالک لاموضوع بالاخیره دی عوامودپاره ښه داده چی شهدا وواولیاووته دثواب رسولوپه نیــــت دی هم نـــــــــذر ونه نکوی ځـــــکه چـــی یوخونذر تقـــــدیرنـــــشي بـــدلولی اوبل داچـــه که دهغه مطلوب کار ووشی بـــیاوای چی گـــوره دی فـــلانی ولی دپـــاره مانذرمـــــنلی ووخــــدایﷻ می کاروکړچی داهم دی عقیدی خرابـی ده ځــکه نذرصرف الله تعـــالی ته منل کیږی اوصحح عقیده عوام نشی برابرولای والله اعلم

په زیارتودغړوویشلوپخولوحکم

سوال :-بعضی زیارتونوته ښځی ورځی اوهلته پری غړی پخوی ایاداهم په مثل دنذر ولیانوته حرام عمل ده اوکه نه ؟

ځواب :-دزیـــارتونومتـــعلق چـــی څومره منکرات دی مونږذکرکړوداټول د اوسنی عصر په ښځوکی موجـوددی ځکه خواوس دعلماووفصله داده چی دښځوتلل زیارتوته ولـوکه زړې وی هــم نـــده صحح یوله هغومنکراتوڅخه چی دی زیارتومتعلق ترسره کیږی همدغه په سوال کی ذکرمنــکرعـــمل ده حضرت شاه عبدالعزیز(رح)په دی هکله داسی فرمايي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال :- طعام منت بزرگان جائزاست یانه � خــوراک بــزرگانوته نذرکول جائزدی اوکه نه ؟

ځواب :-خــوردن ان قریــب بــحرام اســت بشرطیکه نذرالغــیرالله باشــد فتاوی عبدالعزیز ج۱ ص۹ خوړل ددی حراموته نیږدی دی په دی شرط چی نذردی الله‎ﷻ نه ماسواء دبل چادپاره وی لهذایوخووتل دښځوله کوره داحرام دی اوبل تحضیص دمکان دابدعت اوبل حرام ده اوبل داننذرالغیرالله ده ځـکه چی ښځی دجهالت دوجه خــپل نــیتونه صرف دی الله تعالی ﷻ دپاره نشی گرزولای نودابل حرام ده بــالاخیره له داسی اعــمالونه پرهیزکول پکاردی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښو شپو متعلق بدعات

دښوشپودلمانځلوشرعی حیثیت اوداکبرعیدحکم

دښوشپومتعلق بدعات

سوال :-ځنی خاصې شپې لکه پنځلسم دی برات اولسم دمحرم اوداسی نوری خلګ دیته ښې شپې وايي اوپه ډيرجوش سره يي لمانځې چې څوک غړی اوحلواوی پخوی جماعتونوته يي وړی اوځينی خلګ پسونه حلالوی اوپه کورونويي ويشی اوهمدا رنګه بعضی خلګ په خپل مرده پسی دخيرات په نيت دکم عيدپه ورځ يادلوی عيدپه ورځ مخته پسه حلالوی اوجماعت ته يي راوړی چې اکبرعيديي بولې ايادرواجونه دشريعت له نظره څنګه دی ؟

ځواب :-په دی شپواوورځوکی دشريعت نه لاندی شيان ثابت دی هغه داچې حضرت نبی کريم ﷺ وفرمايل چې تاسودبرات دپنځلسم شپه ويښه تيروی اوپه ورځ کي يي روژه نيسی ځکه چې الله تعالی په دغه شپه کی ددنياآسمان ته راځی اوفرمايي چې څوک شته مغفرت غوښتونکی چې زه ورته مغفرت وکړم اواياشته څوک رزق غوښتونکی چې رزق ورکړم اواياشته څوک عافيت غوښتونکی چې زه ورته عافيت ورکړم دالله تعالی درحمت دغه دربارترسهاره خلاص وی اوهمدارنګه حضرت نبی ﷺ فرمايي چې دمحرم مياشت يعنی دهغی په لسم تاريخ روژه نيول درمضان دمياشتی نه پرته ترټولومياشتوزيات ثواب لری اوهمدارنګه دبرات په پنځلسم هديری ته تلل مستحب ده حضرت نبی ﷺ په دغه ورځ دالله تعالی په حکم جنت البقيع ته ولاړاوهلته مړوته دالله تعالی نه استغفاروغوښت داحديثونه مسلم اوابن ماجه روايت کړی لهذاپه دغوښوشپووروځوکی دشريعت نه عبادت اوهديری ته تلل ثابت دی ددينه پرته نورهرڅه خرافات اوبدعات دی لهذاپه دی شپوکی داحلوه وی اوغړی اوپسونه صدقی او خيراتونه دی صدقی خيراتونه کول ښه کارده خوالبته تريوخاص وخت پوری صدقه خيرات متعلق کول چې شريعت دغه خاص وخت نوی ورته ښودلی صحح نده لکه چې مخته نزدی دامسئله تفصيلی بيان شوه په شريعت کی په دی خاصوشپوکی دخيرات کولوڅه حکم نشته اوبل داچې

صدقی صرف مسکينانوته ورکول لازم دی لکه چې الله ﷻ فرمايي انماالصدقات للفقراء - يعنی صدقی صرف فقيرانواومسکينانولره دی اودهغوی حق ده حلانکه زمونږمروجه صدقی چې په سوال کی ذکردی ياجماعتوته وړل کيږی چې هلته يي اکثراوباداان خوری اوياپه کورو تقسيږی چې ډيرکورنه يي مالداراوابادوی نن صبا مسکينان ډيرکم دی اودادقران خلاف عمل ده .اوبل داچې داصدقی اوخيراتونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دناموود پاره کیږی دی ثواب نیت ډیرکم وی پــــکښی ځـــکه که دې سړی تـــه ووایې چـی ددی پسه روپـــۍ دې فــــلانې مســـکین یافلانې مدرسې ته پټې ورکړه دی صدقی په نیت ستاموی ته بـــه یې ثـــواب رسیږی نوهغه دی خبری ته کله هم تیارنده اوبل داچه ددی شوشـــپودومـــره زیات الـــتزام کیږی چی بی له څه پخولوخلګ وایې فلانی ښـه شـپه نه وه کړی حلانکه چی مخته تیرشو چی یوشی په خاص وخت پوری لازم وګـرځـول شی چی شریعت نه وی لازم کړی بدعت ده اوبل داچه په قرون ثلاثه ووکی هـم داشپې وی حلوه وی اوپسونه هم موجودوواوهغه دثواب په حاصلولوکی هـم تـرمونـــږډیرحاریصـــان وو حلانکه هغوی داعمـــل کله هم ندی کړی ددی ټولوخرابیانوله کبله علماوو

دی عمل ته بدعت ویلی لکه فخرالاسلام محدث دهلوی حضرت شاه غبدالعزیز(رح)لیکې

سوال :-پختن طعام درایام ربیـــــع الاول برای خدا ورسانیدن ثـــواب

ان بـروح برفتوح حضرت ســــــــرور کائنات ﷺیا حضرت حسین درمـــاه محرم ودیګرال اطهارسیدمختـار صحح است یانه جواب :-انسـان در فعل خودمختار است میرسـد کـــه ثواب عمل خودبـرای بـــــــزرګان با یمان خودګرداندلیکن بـــــرای این کار وقت وروزمتعین نمـــودن وما هی مـــقـــررکـــردن بدعـــت اســـت وهرچیزکه بــــــران ترغیب صاحب شرع وتـــــعین و قت بنا شدان فعل عبـث اسـت ومـخا لفت سیدلانـــام حرام است پس هرګز روانبـــــــــــاشد فتاوی شاه عبدالـعزیزج۱ ص ۹۷ پخول دی خوراک په ورځودی ربیع الاول کی لپاره دی خدای اوثــواب ښښل یي روح نبیﷺ ته اویاپه مـــــحرم کی څه پخول واخیرات کول اوثواب یي حسـین ته اویـانوراهـل دنبی تــه ښښل صحح ده کنه ؟ ځـواب انــــسان په خپل فعل کی مختارده دهرنیـک عمل ثواب چی چاته بـخښی ثــواب یي ورته رسیږی لیکن ددې کاردپار ه وخت یاورځ معلومـول بدعــت ده او په هرشی کی چی شریعت ترغیب نـــه وی ښودلی اوهغه دپاره وخـت نـوی مقررکړی هـــــغه کـــارعبث ده اودی حضرت نـــــبیﷺ دی طـــریقی خـــلاف ده اوحـــرام ده لهـــــــذادخیـــراتـــونـــه هیـڅ کلـــه روانـدی حکیم الامت حضرت مولانااشرف علی (رح)په دی هکله داسی لیکی

دی حلوه داسی پابندی کول چی بی له دینه ګویابلکل شب برات شوی نـــده په دی پابندی کی اکثرفساددعقیدی هم ده چی داعمل ضروری بـلل کیږی او فسادعملی هم ده چی ترفرضواواجبو ددی زیات اهتمام کـیږی اوددی دواړو یعنی فساد عقیدوی اوعملی معصیت ګناوالی په فصـل اول کی په تفصیل سره ذکرشوی ده الخ اصلاح الرسوم ص ۱۸۵ ددینه علاوه حکیم

الامـــــت ددی عمل نوری ډیری خرابیانی په خپل کتاب کی ذکرکړیدی چی دټولوذکرکول ضـــروری نـــدی عاقـــل لـــره اشـــاره کافـــی ده اوبی عقل او متعصـــیب لره ډیـــرد لائـــل هـــم کفـــایـــت نـکوی بالاخره دی جهان منلی شخصیتونه اوبزرګان دین مولاناشاه عبدالعـــزیـــــز(رح) اوحضرت مولانا اشرف علی (رح) دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عــــمل ته بـــــدعت اوفـــاســدعمل وايي خوکه بعضی نورڅوک دی عمل ته جواز ورکوی هغه کیـــدایشی له مذکورواشخاصونه برتروی (ع) ببین تفاوت راه ازکجااست تابکجا

دبرات په پنځلسم دمتاؤی یواوشوئ براتولګولوحکم

سوال :-ډیرخلګ دی شب برات په شپه متاؤی غـورزوی شـــوی براتــونه او اورونه بلوی ټیرونه سوځی شریعت نبوی ﷺدی عمل ته په کوم نظرګوری ؟

ځواب :-داعمل په اصل کی دی مشرکانواتش پرستوعمل ده خوبدبختـانه چی دی مشرکانواوهندوانوډیراعمال اورسمونه مسلمانانوته داخـل شوی دی لهذاچی داد مشرکانوعمل اورسم ده نوناجائزخوضروروده.

شیخ عبدالحق محدث دهلوی په دی هکله داسی لیکی بدعت شنیعه ده هغه رسم کوم چی په اکثروښارودی هندکی کیږی چـی هغه زیات چراغونه اوبرقونه لګول دی اوهـــمدارنـــګه زیات اورونه بلـــول دی اودهـــغوی سره دلهولعب (ساتیری)لپاره جمع کیــدل دی چونکی داداســی عمل ده چی نه یي په معتبروکتابوکی کوم اصل شته اونه یي په غیرمعتبروکتابوکی اونه کوم ضعیف اویا موضوعی روایت پکښی شتــه اوعلی ابن ابراهیـــم ویلی چی دی اوربلیدواوروښــانـــتیا بدعـــت اول له برامکه چی راشروع شوهغه خلګ اتش پرست ووچی کله مسلمان شول نوداکاريي په اسلام کی داخـل کړاوله دی نه ددوی اصــــل غـرض اتش پرســـتی وه الخ ماثبت بالسنة للعبدالحق محدث دهلوی اومولاناعبدالکریم تــــرمذی لیــــکی چی څــوک دا عمل کوی هـغه ددی حدیث مصداق ګرځی من تشبه بـــقومٍ فهومنهم یعنـی چاچی له چاسره مشابهت اختیارکړهغه به له هـغوســره په ورځ دی قیامت راپورته کیږی � ددی حدیث له رویه علماوولیـــکلی پټــلون نیـــګټایي استعمالول حرام دی ځـــکه چی دادکفارو لبـــاس ده اوپه انګریزی هم بي له حاجته خبری کول صحح ندی بالاخره په دی شپوکی اورنه بلول ډیـربدعمل اوبدعت ده بیاخاصکرداسی ده برکت په شپوکی داسی اعمال ترسـره کول لالویه ګناده که کم عمره غیرمکلف زنکان داکارکوی په لویانویي ضروری ده چی له دی عمل نــه یي منـع کړی اودی نه منـــع کولوپه صورت کی به يي ګناه دلویانـوپه غـاړه وی همدارنـګه هــرنـــاروا‌ه عمل چی کم عمره هلکان کوی لکه دی سروزروګوتي په لاس کول وغیره په سرپرستانويي لازمـه ده

چی له داسی اعملويي رابنـــدکړی کـــنه پـــه ورځ دی قیــــامت به دوی پری مسئول يي خوبدبختانه چی سرپرستان خپل اولادونــه دی اعمالوته برابره وی لکه هرمالدارشخص خپل اولادتـــه دسروزروګـــوتی جوړوی اوهغه ته يي ورپه لاس کـــوی حالانـــکه دسپینــوزرونه ماســـواء نورهـــرقسم ګوتی استعمالول دنارینه لپاره حرام دی البته دښځولپاره دســـروزرواستـــعمال رواده

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**